

Ketabton.com

# ورانګه

یوه ورانګه په لاس ورشي
آدم ولاړ شي قدم وراندې
بیا پیړه په ځای ولاړ وي
او تیرې وي لاندې باندې

ګوهر رحمان ګوهر

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وړانګه

دکتاب نوم : وړانګه
ویناوال : ګوهررحمن ګوهر
دچاپ کال : ۱۹۸۹
خطاط : نورالدین «هنریار»

بسم الله الرحمن الرحيم

په وياړ

د هغه ټولو زړورو ياڼو

چې د بنياد مو د ښتو نو ځني

تېڅنډې د پښتو څولاني او د-

لاسو نو ولچکو نه پرې کوي او دا

رنګ آدمزاد خپل قجير قامت

ته ورچکوي او ژوند نور

غوڅانګن کوي.

PROPERTY OF ACKU
7550

ځوک یې ولې خپل قسمت کړي
کومه ورځ چې نوربېدی[1] شي

ځان په ښنش ولې لیکه[2] کړي
چې په شتوکې اودرېدی شي

څه په سر آسمانونې یې
که آسمان ځمکه کېدی شي

په مټ څه لره سر په ده
چې په مټ نړغونېدی شي

په خرړک[3] دې ولې سود[4] شي
چې په خېز نښترېدی شي

د پېړو[5] ټل[6] ته ولې پلي[7]
له بریالو چې ملېدی[8] شي

د باز اداره هنر دې نه نړ ده
که نه یې چېتي بازېدی شي

لیت او لارچې د مېړه وي
فطرت ټول ولجه کېدی شي

---

۱- نوربېدل = بدلېدل، ۲- لیکه = حساب، ۳- خرړک = یو بوټی، ٤- سود = مطمئن
۵- پېړه = ماتې خوړل، ٦- ټل = ډله- جمعیت، ۷- پلټل = یوځای کېدل، ۸- ملتل = مل کېدل

که سوارۀ لوی فرعونان دي
که کلیم(ع) شي کونړېدی شي
د بری لاري بند نه دي
که له سر څوک تېرېدی شي

○

لوی کتاب د میړښکارانو
ګډه په وینه کې د ځانان کا
بیا د ختو ګوګوشتان تول
الوتونکی باتوران کا

○

د کلیم دودونه خپل کا
راښکوره زورجهان کا
پرېباسلی او نتلی (۱)
د دوران قهرمانان کا

○

هغه څوک چې میړه خېل دی
ټینګ په ننګ او په خپل خېل (۲) دي
د زمرو مارمې (۳) یې ژوند دی
چې د شنو زمرو د سېل دی

---

۱- نتلی = ناتارشوی، ۲- خېل = هوډ، ۳- مارمې = ښکار.

ترمې وینې دی سکروټې

ترمې وینې هم رامبېل[1] دی

دخپل تنګ دي پاتې شوي

په کولنډ[2] دی که په بنکېل دي

رشې ښخنګه بې کوندې[3] شي

چې څانګې[4] همه رشپېل[5] دي

داطبیب به دې ښخنګ روغ کړي

چې بې چارې دشاخېل[6] دي

چې د دروزې[7] بې تښې وي

په وینو پراته غلبېل دي

چې جامه بې کاسېرې[8] وي

څه په چېل[9]، څه که بې چېل دي

د باتور انګې[10] وروستې ده

مشرې که په چارخوېل[11] دي

---

۱- رامبېل = یوګل، ۲- کولنډه = کټخه چې دغوېي، څاروي څښتن ته بې اچوي چې دآزاد ګرځېدو نه یې منع وساتي، ۳- کوندې = کامې ګمټې - خلېل، ٤- څانګې = درې غابښې ۵- رشپېل = چې دغلې رشې پرې بادوي، ٦- شاه خېل = چې شاه خلیل کوي یعنې څرمنه شخ شخ تسمه تسمه کوي، ۷- دروزه = دغنمو دنډو - تیلې، ۸- کاسیرې = بدلمنې ۹- چېل = پړونې، ۱۰- انګې = یوه لوبه چې وایي انګې انګې مل دي څوک دی ،

۱۱- چارخوېل = قرقره.

نه د دین، نه د سا[1] دین دي
خوار متازه د سوئبل[2] دي
شاید بیا خلیل ع زرغون کړي
"مومنان" تول آذر خیل دي

○

کلیمه لویه کیمیا ده
لا ناپوهه پر دنیا ده
ژوند په هر اړیکی وي چې
کلیمې ته یې اړتیا ده

○

د جهان د سمام[3] پیټې
وړې تندي باندې مېړونه
د ملخې نه کله کېږي
د باتور، د باز کارونه
ننګیالي په دار بر سېره
غوړوي خپل منبرونه
په پاخون چې "زه یم" نه کړي
خوشې پوچ هغه مونځونه

---

۱- سادین = اړولی څمکه، ۲- سوئبل = دریمه نړی، ۳- سمام = بندوبس- توزین

په جرقار چې لرو بر کړي

بلالي رض هغه بانګونه[1]

چې دا ځمکه دخدای کور کړي

دي هغه دښتن ملونه

ننګيالي دي شاه ميړونه

لکه حق يې کړي وړه وي

د ننګيال په مټ، په توره

دلته اړ دښتن کړه وي

خولې ماتې په فرعون کړي

د ننګيال د مزري زړه وي

تور[2] ځنګلونه خوندي وي

حق ننګې يې غرين کړه[3] وي

ساه يې واچوي جوش[4] کې

له پيړو پيړو چې مړه وي

دناحق وړه[5] متول پړه کړي

وړه هغه کړي، چې تل پښ وي

---

۱- بانګونه = آذانونه، ۲- تور ځنګلي = باطل کاره، ۳- غرين کړه = قلا- سنګو

۴- جوش = تنه ، ۵- وړه = برياليې.

د کېدړ په اوړو نه شي
چې په غرمې د شنو زمرو شي

په تسپو مو سلو نه شي
چې په تورو، په نېزو شي

په منښتو(۱) نه بو دېږي
چې په وینو په خولو شي

چې د باز شوغې ته اړ وي
هغه څنګ له تو تکو شي!

ننګيالي يې شي کولی
چې په دار، په غرغرو شي

د تاریخ بهیر کړولی
کله څوک بې هوډيالو شي؟

د راسمنو چارې کله
د ناراموِ(۲) په لینګو شي

د ژوندون د میدان ګټې
په ډال غاړو تورياليو شي

د ځیرک مېړانه کله
له درست کلي د رندو شي

---

۱- منښته = زیارتونوته د ورو د پاره په ځان خه منل، ۲- نارام = ناغیږ-ناراست .

چې رنځور باوېړې[1] وکړي
پو چې هیلې د دارو شي

آدم وکوره ای مار کسه!
کله بې سود په کورکو شي

د څانګو د کوچنی نمرۍ[2]
پوره څه رنګ په ځلمو شي

چې د نمر د رڼاوي وي
روڼ به څنګ په اورکو[3] شي

عقل څه خوږې آتي دی
راسوري[4] په خپلو ملو شي

د ځیرک سړي پوره والی
د حرکې په سیپارو شي

چې له مال خبره واوري
پت به سربندې پاله شي

کائنات چې په منګل کړي
داسې سړي باله شي

---

۱- باویړې = بابیړې = د نارو غې بیا تاندېدل، ۲- نمرۍ = جامې، ۳- اورکی = اوربلکی
٤- راسوري کېدل = راکرځېدل - راخلاصېدل - راختل.

لوټې نه تلې ضبا څوک
هم يو "زه يم" به تالـه شي

ښکلی هغه چې ښيـوه[۱] يې
يو د "زه يم" په پسـالـه شي

زه يم هر کله ځلمی دی
دې وجود چې زوړ ځاله شي

هغه ورځ به ستر سحر وي
چې دا ځمکه يو کاله[۲] شي

په يولوی سين کې غرلې
چړې، چړ، لښتي، ويالـه شي

د کتاب حد ماتي مه شي
هره لاره چې تړي
چې د ژوند د خيره نه وي
ورانوه لارې زړې
حق به هله ميشته وکا
لومړی غير چې وشړي
يا سړی ياد څرې شه
حق ناحق ولې ولړي

---

۱- ښيوه = ډول - ښايسته والی، ۲- کاله = کور

زبېښناکیان چې له مینځ ورک شي
پرګني به ښي مړې
لوی آتیان لکه او(۱)کړکړې
د جګ غر تیږې وړې

ستور ښار کو دوازه کسي
په ښار لو کړل تنها کې
نړۍ ورت پې چرته بیاموند
برد ستورو په دنیا کې

له کارونو او له شکو
سره زر وښکل کیري(۲)کړو
الوول حق وناحق دی
څنګ تراوسه سترګورو؟

د بوذر(۳) د کندي خلق
د آذرود کندي دي
که هرڅومخ په کعبه دي
له بتانو پیوندي دي

۱- اوکړه د ښاروود خوړلو نه وروسته پاتي کېدونکي ګیاه یا تانتې، ۲- کیریکره: کیري کوونکي

جوړوي د شيښو مينې [1]

ځيرکان خوښيبه کړوي

د وختونو په ناتار کې

چې يې وکوري د بړ [2] وي

○

د وجود نيستي بلا ده

پرې له سوخته مارکسان ژاړي

سر نيستي ده د نيش [3] «زه يم»

دوه نيستي کليمان ژاړي

○

رغانه د توکو توکو

د صورت هسې د وړ بږي

ولې «زه يم» يوتوکيز [4] دی

يوتوکيزی نه نړېږي

○

حيواني وجود دې څه دی؟

د حجرو [5] الوولتيا ده

او حجرې د خاورين توکو

خپل ترمينځه اتوولتيا ده

---

۱- مينه = کور، ۲- د بړ = سنګسار، ۳- نيش = ناشته - نيشت، ٤- يوتوکيز = د يوتوکی نه جوړ - چې کډوډ نيزه نه وي، ۵- حجره = Cells - ژوندينکی.

دا خاورینه واړه توکي
د برېښنګو غوښې دي
او برېښنګو ته چې ځیر شې
تشې ترقنده خپې دي

○

دین همه واړه سره زر دي
مذهبونه ټول زرنیخ
دین ژوندون کاندي غورځانګه
مذهبونه یې چارمېخ

○

ګړلاسي کندوان یې ډک شول
چې جب جوب شول په خولو کې
ځارله هغو توریالیو
چې په خېټ دي سرخېرو(۱) کې
غوره(۲) ټوله دې په ځان بده
تش لمن که یې پسرلو کې
ساده ګوري ملغلرې
خسا دندوکو، خرخوړو کې

---

۱- سرخېري = سرپره ، ۲- غوره = تومت - ګرم والی - ملامته

دا چې ګوابښ په ستورو کېږي
ته هم زاوره څه نيزوکې
څه ناو يا ته چاره وکړه
مېرنيه! په تلو تلوکې

ګوړيمار[1] چې د بمبل وو
هغه سر په مونډو[2] دی
کړولي[3] چې د باز وي
پدلولکو په شوغو دی
چې د برید اوږدی وُ
د تسپو د موسلو دی
چې جرګې پرې ښایسته وي
هغه شرم د جرګو دی
چې څښتن د لوی اخوړ وُ
اوس د پوچو کښېدو دی
د تیرو تورو بوُر[4]کی وُ
د بې سترګو د کنډو[5] دی

---

۱- کوړیمار = داتمان د مخې په لوبه کې په بمبل (په سر کې) د کوړې (حلقې) د ننټکې ویشتونکی
۲- مونډه = د مخې په لوبه کې په بټ د تیلې خمېې نه ښکته وچې کېښې لوېتی، ۳- کړولی = د ښکار څېرکولي، څارلود پاره د باز تاویدل راتاویدل، ٤- بور = زمری، ۵ = کندی = چم، محلت.

د قرآن ځني نامـــــنده
څه د خوشو عقيـــدو دي

بازداري پولـوي هــنر دی

ته په پو ښیله[1] بازداري
چې نه لـري جــې
په نامه باندې میشکاري[2]
تش غټ بازو وته ناسـت یې
څه که ځوږې د لوی بلا ريې
ته میر ښکاره کړیږ غــــواړي
په ښه ښه مــــرداري
یې په تـومنه له و یـــاړلو
خو په چارو کې د ویار[3] یې
له قـرآن نه غـیر هـــذا
بې صلوٰة مونځ ګذاري
کله سرکـړیوان ته کوز کـړه
چې داولې دومره خواري ؟

---

۱- ښیله = د څرمنې لاسمه چې د باز ښکنولو د پاره یې لاس ته اچوي، ۲- میشکار = بلزوان، ۳- ویار = شـرم.

چې پټولنه قرآني وي
دا سړي به شهسړي[1] وي
دا ټنزري تاروکي به
بیا بازونه وهندي وي
دا پرېوتي، دا انست[2] به
بیا ښېترې آسماني وي
چې نومړې په قام قام دي
بیا به ټول یو آدمځي[3] وي
د نن شخولي[4] او کاټي[5] به
صبا توري او تو برې وي
په ونډه[6] ځمکې د نن به
نه ځمکوال، نه شيخ ملي وي
نه به پولي، نه بيلتون وي
نه نها، نه زمايي وي
يو آدم، يو آدمتاله[7]
په کس رنګ به يو رنګي وي

---

۱- شهسړي = سترسړي، ۲- پرېوتي انست = بوهتی دی، ۳- آدمځی = د آدم زامن،
٤- شخوله = درسته، ٥- کاټي = تيکی، ٦- ونډه = داسی حلال کړې څلروی چې پکي خلقو برخي (ونډې) ملستی وی، ۷- آدمتاله = ټولنه چې پکي د ځمکي ټول استوګنی (ځمک زی یا آدم زی) را ټول وی یا سره راټاله وي

آدمخُوني[1] به يو کور وي
وران به کورکي کورکي وي

درناوی به وي په جسو
سپکاوي به بې جسې[2] وي

نه مري نه به څښتن وي
نه به غټ، نه به نري وي

نه کاواک ، نه به بې واک وي
چې الله به ټولواکي وي

ټولنوال به ټولنوال لــه
رب، رحيم وي، او ولي وي

هم به يې کسب خالقي وي
هم توره[3] به يې رازقي وي

وي پاخون لکه يو تن به
يو ټاله به مخټکي[4] وي

له ختيځه ترلويديځه
به يو ستره ورورولي وي

په حد و نود کتاب کې
به د عقل خپلمنځي[5] وي

---

۱- آدمخُوني = ځمکه ، ۲- جسې = ورتيا - اهليت ، ۳- توره = قانون - تره - ترلې لاره - لاره ، ٤- مخټکی = مخکې تګ ، ۵- خپلمنځي = خپلواکی - آزادي.

سین، د غاړو په درنښت به
تل تر تله غُرځنګي وي
یو ځای به په له ټولو
ټول له یوه به لوکي وي
له قبلو دې ګډو ودو
به یوه کعبه موندي[1] وي
له زړها اور او رڼا به
د ځړې یو رڼایي وي
سرې ټول به سره سیال وي
په فطرت[2] به یې ستر واکي وي

○

ستا خیرې درست کائنات دی
ته لا کوز په خرخښ[3] وې
پولې پولې ده لا ځمکه
خپل ترمینځه په دښمنۍ[4] وې
ژوند له تنه ګډونیز[5] دی
ته ځان ځانې به ترڅ وې

---

۱- موندي = راکسل ناوی - د غوبل د مینځ غوبۍ، ۲- فطرت = نیچر، د بنیاد م نر پټه نور ټول کائنات ۳- خرخښ = جګړه، ٤- د ښمنه = دښمنۍ، ٥- ګډونیز په ګډه هستیدونکی.

ځمکه يو کور ځکه نه شه

ته ترڼن د کورکوي

يوکور[1] په واړه آدم دی

تڼ په قام، په قبيلوي

د يوې حجرې زيږنده

د حجرو په بيل کلوي

کړه بنا يو آدمتاله

وران کا پولې سرحدونه

د خپل تن حجري کا ټولي

دا خواره واړه قامونه

ستامرام يو وروولي ده

نه ملګري ملتونه

يو بيرغ په ځمکه جګ کا

کوز کا واړه بيرغونه

داوسلي د مرګ لاهو کا

سُر د امن کا تارونه

پدې ځمکې ـ آدمځوني

بيا بر سپر کا جنتونه

---

١ـ کور مه = کورنۍ.

يو كتاب دى سرتوره[1] كا

نور ونغاړه كتابونه

بيا آزاد په آدمزاد كا

پارچاو[2] شوى نعمتونه

زول چاپيره سورالوزي

د دويزاره راپريبوځي

له دې چې قندونا تاربه

هم پاخه ښختې وځي

چې دښوند ځله يې مړه شي

چې يې ساه دلينكو وځي

راخوره شي پرې دلوړو

اور په خوله ځوځي ماځوځي

د قرآن دعوه خو داده

چې مؤمن په هرچا بردى

دعوه كېږي دكتاب كوره

دهمه قامونولر دى

---

۱- سرتوره = دسرقانون - اساسي قانون - ښستهي قانون، ۲- پارچاو = دب - بند.

د زر دارو په تــــرلــنې
دې کټونکي په بايلـــــنې

د شته منو شته مني ده
د نيستمنو له نه بيښــــنې

د مارو کوښې[1] جورېږي
د تش بانو[2] له شــــرمــنې

د زردار مـــانۍ ولاړې
د کارگر په تــنې پــلنې

د ډک لاس[3] سپينه جامه ده
د تش لاس وپه ريـمـنې[4]

بده ورځ د لــولنـــگرو[5]
دا زل نه دی لیکــــــنې

د باطل تولنه پايـــــي
د مذهب په سروينځنې[6]

---

۱- کوښې: پيزار، ۲- تش بانې: نيستمن، ۳- ډک لاس: چې لاس يې ډک وي
٤- ريمنه: خيرنه - خيچنه، ۵- لولنگر: بې ځمکې - چې ځمکه يا دوبتــ
نه لــري، ٦- سروينځل: ملاتړ کول - پلوي کول.

○

وګـړي پټول که آذري غـواړي
څښتن له تا نه خليلي غـواړي
د فرعـوني سـپاره کوزولوله
واړه وختـونه کليـمي غواړي
په تشـو تيـکو له کـتـي کـيږي
دننګ ډګر لا شه ځلـمي غواړي
وګړي پټول سـرڅـوي او پايي
حق د ميړه غوندي ځوندي غواړي
ښکيلاکي عمرد ځاروودي ګـوري[۱]
ځوندی آدم به مخ کښي غـواړي
دا باسين خونړي نيزاو[۲] چلي
د جاليوانو سـرهنـګي غواړي
په هسک او تل د حقيقت لټـول
تل سر ببري ليـوني غواړي
چې د څښتن لاره د ب کولي شي هـم
ځوندا سي زين او هسک سر ې غواړي

---

۱- وګوري = خبردار ، ۲- نيزاو چلي = سيلاب او چپې .

○

د هګ قاموونو په خرخشو کې
واړه قاموونه بې هیڅه دل شي
د میکیاولي د شهزادګانو
په ژمنو خپلو کله عمل شي
خپل کندکونه به پرې ناتار کړي
ګډې که ټولې زمري ته ټېل شي
غښتلي متې د ځان کلا ده
کمزوري متې د ځان اجل شي
که سر ببري هوډيالي پاځي
په رېزکو[1] به داهګ بدل شي

○

چې د حق سره په لار دی
لکه حق هسې بې څار دی
چې د حق د لارې بېل دی
په دنیا په آخر خوار دی
یو ویاړلی د حق رنګ دی
بل هر رنګ آخر د ویار[2] دی

---

۱- رېزکي = کوچني- وړوکي- ناشي، ۲- ویار = شرم- پېغور.

چې تیغه[1] کې حق ته ولاړ دی
د خدای هغه څوک پکار دی
د خپل «زړه» ناروز ونکی
خپل ځانی په ځان ناتار دی
د مېړونو مټ که ګوري
ګل ورین هم تن ترچار دی
په تولو چې د هتول ژوند دی
حق، او ښکلی هغه کار دی
چې د خیر د آدمزاد دی
نو په خدای هغه مخدار[2] دی



چې ناسور په مخ د ځمکې
شیخ ملي وي دا دوتړي
آدمزاد به دوه تپی وي
لږې برې نورې لرې
د هتولنو د لرمون به
زرینې لوږې او نهرې

---

۱- تیغه = برش - کږه وږه - نقش -
۲- مخدار = روېدار - دروند.

شي څـوړلي خلـقي به
بې دولتي (۱)، يوه څړي (۲)
درپه درخاوري په سر به
پرکښي وي لولنګري
د هټولنولوړشور دا —
خپلو بدو له اشري
عقوبت په غړغنډو شي
چې دکيا (۳) وي اورد سري
تاله تګ د آدم اړ دی
په يو ورځې برابري
چې پرې دروي کائنات ټول
ستا هم هغه لار مخبري (٤)

PROPERTY OF ACKU 7990

دا چې خان خانتوړ (٥) بولي
دا چې هر څه ته شمله دی
نيسمنان په کمنډ (٦) نيسي
وايي سپک دی ارکجه دی

---

۱- بې دولت = چې دوله نه لري، ۲- يوه څړي = چې يوازې وي، ۳- دکيا = چې لوګي کوي،
٤- مخبري = په برمخ، ٥- خانتوړ = خان چې ترل پر انستل کوي چې د توري خان وي،
٦- کمنډ = کم ذات - کم اصل - کم سيال

له ازل، وایې بـربـال یو

نور په برخه شاکند[1] دي

دوی له مخ د خدایه رغ[2] دی

نور له ښېښو یې زېږ نده دي!

کومه نوره یې د ازل ده

چې شتمن داسې پوره دي؟

د بېسنو کوم گناه دی

چې نیمگړي، نیم کوره دي؟

او په هره یو ستو لنه

پره، پرهوتې او روره[3] دي!

که د اصل کړې پوښتنه

آدم زی ټول یو حجره دي

له یوې حجرې راغلي

قام، قبیل، تپه تپه دي

لوړ زور دی له ز بېښـاکه

شته په نیشو[4] آلوده[5] دي

د بې وس د بې وسی نه

وسمنی را زرغونه دي

---

۱- شاکنده = چې شایې لکېدلی وي، ۲- رغ = جوړ، ۳- روره = تباه.

٤- شته او نیش = شتمن او نیستمن، ٥- الوده = ښښتی - اخته

لہ شته منو غلچکو بیا
مذهبونه بدرګه دي

دفرعون د کور د ښته
په پاڅون آخر موسی شي
دباطلو ښاماران ټول
تار پتار یې له امسا شي

○

عقل لیت دی، ډیوکی ده
پرې قدم قدم روښنېږي
کلیمه هغه شهلیت[1] دی
چې ټول ښروند پرې جوتېږي

○

د آدم د شاه ځامنو
توري هرکله ښروندي دي
د وختونو په آسمان یې
په ځلا ستوري سپوږمۍ دي

○

د زړه وپیړو کاروانه — نه میړونه به بیا کړي
شاه میړه کړي هغه چارې — چې پیړۍ پس یې دنیا کړي

---

۱- شهلیت: شه + لیت: لوی لیت.

○

چې په ځان پلن[۱] سوري نه شي
ټول جهان په ځان راتنګ کړي

له کوڼاره چې دمه شي
هغه توري نېزې زنګ کړي

هو دیالي نېزه باز کوره
چې په ماته نېزه جنګ کړي

له یوې بلې تېرې ته
د زړګي[۲] زمري غورځنګ کړي

چې د مرګ په طلب نه شي
ژوندانه ورځني شنګ کړي

ننګ په حق باندې کوونکی
لکه ځان باندې چې ننګ کړي

رنګ له حقه ځني واخلي
بیا وریاځي جهان رنګ کړي

○

کلیمان د ژوندون لاره — رپې د سترګو کې په ډک کړي
ځیرکان یې په لیتون کې — تر غمرونو سرغونډک کړي

---

۱- پلن سوري = په پسات پلن ، ۲- زړګی = پرهار ژلی .

○

دی پکار څه رنګ اړیکی
د آدم له بل آدمه ؟
دغه لویه کشاله ده
او د ژوند لویه کرمه

○

آدم دغه قدر نه دی
انجړبنجړ[1] ژوندینکی
یو موندړی[2] زړه یم اوده دی
د بدلون پدې څاندړه[3] کې

○

که آدم بې پوښه نړی
څه پیر[4] مخی رغانه وي
په ناتار د مرګ صبا به
میراث مړی هدایره وي

○

د بدلون پدی ناتار کې — هم یو زړه یم «دې څوندي دی
که صورت دی یواړتیا ده — نو دا «زړه یم» دی موندړي دی

---

۱- انجړبنجړ = الوول ، ۲- موندړی = راکس ، ناوی ، ۳- څاندره = هستړ- فویم سکلیت ، ٤- پیرمخی = پیرخوړونکی ، بدلیدونکی .

○

پیرخواره[1] یې له پښتو یو سي
چې مونده یې وي اومړي[2]
دکچبه «زه یم» آدم وي
خپلو نغوتو[3] نه باد وړي

○

د آدم له «زه یم» پرته
نور هرڅه چې دي نوربړي
له هر زبړي[4] د حجري نه
لکه ځان هسي رازبږي

○

هم برحق هغه ژوندون دی
چې د «زه یم» په غبرګون دی
که وجود دی که ستولنه
کار د «زه یم» یې پاڅون دی

○

چې د «زه یم» په شرنګ نه دي    روزنکوي[5] د بدلون دي
دجوړو په کچ کې اوسي    او د سترګو تش الون دي

---

۱- پیرخواره = پیوخوړونکی، ۲- اومړی = اوم، ۳- نغوتې = جذبات - غریزې.
٤- زبړي = هغه څه چې زیب ورکوي، ۵- روزنکوی = روزنه کوونکی - لویونکی.

ټول فطرت یې خوري تالیېژه[1]
آدم نړۍ جدا جدا وړې
د ځانې سود غم خوړونکي
له حق لارې پښې پښا، وړې
چې په نور و خپله ویش کړي
خپلې برخې نه سیوا وړي
چې مشال نور و ته جګ کړي
خپلې مخې ته رڼا وړي
ژوند او مرګ یې دواړه سپکلي
د خوړلو چې دعا وړي
چې له خپل میوه آګاه وي
د بشر درنې په شا وړي
اوښتون[2] د ژوند جامه ده
چې شي لټ، په هغو واوړي

١- تالیېژه = په جمع - تاله.
٢- اوښتون = انقلاب.

دژوندون په لویه لارکې
مشالونه بلول دي

د تیرو په تورتیپونو
لښکرونه خپرول دي

کتابونه د پېر د جهل
سوزول او بادول دي

د آدم نه د پېر یادکړي
د عمرونو هېرول دي

که مذهب یې هم سړوینځي
چې باطل دی نیشکول[1] دي

که خوندي دي په کعبه کې
چې بتان دی لړول دي

په هرپل د پرمختیا کې
برابرا[2] شوي غورځول دي

چې ښکېل شوي په غورځنګ شي
ښکېلکونه یې غوځول دي

---

۱- نښکول = ورکول- په نیش لګول.
۲- براببرا = په پلنو ولاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سندان تندي به چېرې کړو نجې نشي
د رند و پلکو نو جوړ که پرې نا نا روي

د مېړه نېستي يو څو ورځې نېستي وي
نه مېړونه شاعري نېسمن او خوار وي

د رند و عقيدو خلقو کې هېش له
ښتنان د غرېدلو به په دار وي

چې بازونه يې په لاس کې چتّي[1] کېږي
ځان به وپوښتي چې داڅرنګ بازدار وي

چې توره[2] د حق ملا[3] نو خپلوي څوک
يو قدم يې په چاپه، بل په انکار وي

خپلې سترګې غړولې ورله بويه
که رڼا يې لار ليدلو له پکار وي

د رباب خواږه دې نشته آدم خانه!
ښايي خلق چې له ميلسه[4] دې ويزار وي

---

۱- چتي = ورکوټي مرغۍ
۲- توره = قانون - لاره - منله
۳- حق مل = دحق ملګری
٤- ميلس = مجلس

ننګیالی نه اخلي لاس له خپله ننګه
اباسین کله پښنه نیسي له غورځنګه
چې ترڅو د ظالمانو نوغی شته دی
حقملان راپسته نه شي څنګ له جنګه
پوهګړی د بې پوهو نه قلنګ خوري
او تول لاندې د کلیمو[٤] تر قلنګه
چې یې مټ د غلیمانو وي کتلی
نه ویرېږي یې له تښه ډنګه ډ ننګه
د مردۍ توره میدان کې لاسنه کېږي
خلاصه نه وي د کاټۍ[١] توره له زنګه
پڅپل زړې کې زرغون شه او سمسور شه
څو دې نه ده لا کوټۍ[٢] خاورینه ړنګه
چې یې جسن وتن په مورکوپه پټ واوړي
خود هغه ته وي کړنجۍ د جهان تنګه

---

۱- کاټۍ = تیکی - چړتون
۲- کوټۍ = د داني کڅوړه

یوبری دیوجنګ غالی دی خوندي که

بیا په بل میدان بربښنا اوتالندي که

چې دلوی ښښتن د لاسوسره بنا يي

شاځلمیا ! ځان په داسې کاربندي که

په حجرو په جماتونوکي تورتم دی

د پېریې غوندې لنبه دې په تندي که

د مینې د ځوی آواز له خلقو بېل وي

څوک به یې ښنګه په تولنکې ګوندي که

چې دخپل عمل لاره[1] ستړې کړل

څوک به ښنګ هغه وکړي راژوندي که

له غوجلې دڅارو و به ښنګه وځي

چې په مینه مینه ښت ته غوږوندي که

چې یې وینې د نهوریې له چا نه وي

هغې پاځي بې وسان په ډاک ګوندي که

---

۱- لاره = لور

خپلې غوښتې ته د غاړې

له خپل تنه پلواښنه(1) شه

د ځپانده اباسين خپل

لکه غاړې په ساته شه

د کړېږ سختې په ځان کړه

پسته باز په الوته شه

په خپل ځان قيد ونه کېږده

زرغونه شه او بيا شته شه

پولې را ښکه، پانکې(2) کېږده

بيا په زغاښت لکه مېږه شه

د خښتن د لارې مل شه

له خښتن ځنې لارغه(3) شه

په رېبلوچې ورک نه شې

په لوښنه(4) لکه واښنه شه

د ختيځ له الا الله -

لا اله د پرېواته شه

---

۱- پلواښنه = مروړې - پلکواښنه، ۲- پانکې = مير- ډک - مرام

۳- لارغه = لرغونې - وړاندې، ٤- لوښنه = خصلت - خوی

په ټولنو لیوګان که دي

هر وګړي لوی اوکړ(١) دی

لولنګ ځکه په نیش دي

درناوی چې په دوتر دی

ټول په تومنه آدم زاد دي

څوک تاله، څوک تالانګی دی

چې درنه دله(٢) یې مله(٣) ده

د هغو سوی په سر دی

داکندی دی د بې ننګو

څوک یې موږ، څوک یې نهر دی

هر ټولنه پانګه واله

د خان بدوله اشر دی

عقوبت به غرغنده شي

داچې نن دګیا(٤) سوسر(٥) دی

---

١- اوکړ = اولال، ٢- دله = ګوند، ٣- مله = ملګري، ٤- دګیا = لوګی.
کوونکی، ٥- سوسر = د دړوسپیاکو او دچې نري نري لوګی کوي.

چې بې تانه ښکې بدې مې تېږي
وابه نه خلي تورې څڅې
په ګڅونو يې پسرلي شي
چې څوک ونغري سکروټې
خپله ګټه دې نن څه ده ؟
چې ستايي د نيکه ګټې
د يوه ماته، باتې سوې
د تورګټ سوې ديوټ يې
نه نښتر او نه چنار شوې
څه د تورو خاورو خټ يې !
دا ميدان د تېرو تورو
ستا مصري توري دي سمټې
چونګ ايره يې پاتې شوې
وې انګار د درنې سټې
حق ننګانو ته وريتېږي
د بې ننګ هرکاله بټې
لات منات چې ګـذاري څوک
شي پخپله يې خې ګټې

خړې، ځکه شوې، خيالي نه شوې
د «لا» شي ځينې شي نه شوې

د جس ترغې نه نا مينده
ټل نچه شوې کنې نه شوې

تشه شخوله - خالي تيکې
ببل توره، توبرې نه شوې

له حجرې تر سرې راغلې
لاپه «زه يم» سرې نه شوې

له مذهب چې ملستل دې
لدې مړينې ژوندې نه شوې

انځاره کې چې دې پروت دې
هغه ستر آدم زې نه شوې

مبنګيرې درته آسمان دې
ځکه باز، باتورزې نه شوې

هر آدم چې دې فرعون کړ
يې بلواک، ځانوکې نه شوې

---

۱- انځاره انځور- زړې- نقش
۲- ځانوکې = ځانواکې

د وګړو سالار پــــړدی
خر سواره چې شاهسواران کړي

د کوڅو لاروکو د ري
ځلن ستوري د آسمان کړي

ګوګوشتان دا و موخته و
سندان سري اتلان کړي

لوړ او کوز سره یو سیال کړي
اړو پیچ[1] واړه یو ځان کړي

چې سړي یې نه سړی کړل
راغوزار هغه بُتان کړي

دلالونو په ځلقولـــــو
د مشکنو بازار وران کړي

چې جس من پکې قدر یږي
راد بر هغه دوران کړي

داد نوم مسلمانان ټول
په رښتیا مسلمانان کړي

---

۱- اړوپیچ = ځپلوکي په ضد ضدی - په غوټو وپڼو.

په میروکې د هر ګلونه راټوکیږي

سره پوپینو دلاله یکې جوړه ده

ننګیالي دي چې دلوی څښتن په تاریې

پوره ترکړی دنړۍ ټوله باره[۱] ده

ته تنزړی یې، دنیاده د بازونو

ډېری ځکه ژوندون دی اداره[۲] ده

غزا وشوه که په نوم کلیمه کوي

زرغونه دې له ژوند کومه کلیمه ده

هونایي[۳] په تپوړوند دی، ښکاترنشي

که نه یې نن هم پرته هغه دوګړه ده

دګزی[۴] غشی دې هر وختې په سر دی

په دیدوان[۵] باندې دې اره پړه، وړه ده

صبا راښکه د شولان ګتو ته متې

که دې نن ګټلی قام لره اوګره ده

---

۱- باره = مسئولیت- ذمه واري- پړه، ۲- اداره = وړانه- ګمتې- لوټې،

۳- هونايي = ښکاري، ٤- دګزی غشی = دوړې پرې ګوزار،

۵- دیدوان = شیش- ځیرګوټه.

لکه خلق هسې ټولنه
لکه کوړ هسې يې غار

لکه اوښ هسې يې سوري
لکه پښه هسې پېزار

لکه باز هسې يې ماري
هسې باز لکه ميشکار

لکه ږيره لاوڼ هسې
لکه سر هسې دستار

لکه توره هومره کټه
رَشه هومره څومره کار

داوچت الوتو پانکي
دشهپرو په مقدار

دړيوې ړڼا ترکوره
نمر په ټول جهان اوڅار

دبې ننګه په رنګ ړېړ وي
ننګيالي نه لري سار

چې د لارې اوښکو نه وي
په هغو جو ړېړې لار

لا یې ډېر وګړي کاندي
یو منصور خېژي په دار
د بې متو وار ځنډېږي
د مت دارو وي بې وار
د زمرو نه اخستلی
سوړلنډی[1] شي کله ښکار
د اتیانوس باري وي
په ملخانو کړمار[2]
کلیمان نه شو ټول عمر
له خدایي چارو وزګار

مذهبونه دي پوچ شوي غربینونه[3]
مذهبیان د خپلې ماتې بېرغونه
د هغو د "راتاندون"[4] طمع عبث ده
چې مذهب یې رواښته[5] کړېدی هډونه
په هغه سالو چې ځان لره دوړېږي
دي عبث دانځورونو کړاوونه.

---

۱- سوړلنډی = ګیدړ، ۲- کړمار = یو غردی، ۳- غربین = یو ټوپک ،
٤- راتاندون = بیا راغبرګېدل، ۵- رواسته = وړاسته.

له مذهب یې چې تودې وینې کتګل شوې
مسلمان بایلل ملکونه سنګرونه

له مذهب ځنې لوی شرک په جهان نشته
لګولي یې په نیش دي امتونه

د مذهب دغوندلانو[۱] تنستو کې
ګل ډیوکي[۲] دي د علم د بیوتونه

له مذهبه هک حلمي تول ریزکي شي
ریزکونه کله کیږي لوی کارونه

تکی تکی دکتاب نن هم هغه دی
خو مذهب ترې نه وبشکلي دي ساهونه

چې تر څو دغه مذهب او دا ملا دی
وي تالا به د تالا قامونو خونه

پوخ سنګر دی شاه مردي ده
تور بازي دي تیغ بندي ده
له باطل د ځان ژغورنې
یوه لاره ملا بندي ده

---

۱- غوندل = غټ غمی
۲- ګل ډیوکی = د ګل ډیوې

له فطرته دې پرده ده
له فطرت دې سرزوري ده
کلیمه دې سرتوب دی
سرتوب دې سرهسکي ده
د بل غم هم د ځان غم دی
دا پښتو، مسلماني ده

په ژوندی کلیمه بیا خلق ژوندي که
دا الله وارو وروستو شوي بیا لومړي که
دا چې خاوري يې له مخه نه چاڼېږي
د سپوږمۍ په دود مخونږي پړقندي که
ورونه ورونه سره غوښې په چاړه کړي
له ټولیز ژوندونه وړکه ګوند ګوندي که
شاه میړونه له زرګونو ستورو تېر شول
بېړې راښکه خپل ملګري ګړندي که
د هغې بې ننګه خلقو مرګ روا دی
چې ګزران د بل په سوي کرپندي که
د پسرلي درنه وږمه شه په خوی کې
ځان وړښت، کله برېښنا او تالندي که

شاه حلمي چې د آدم په ننګ اوچت شي
«شاه پلکونه» بیا زغمل په ډال تندي که

○

د هندو خلکو لاس تپول نه ده
دستر کوډو ګاګیره تلل نه ده
د ایلتیانو(۱) کلي وړانول نه ده
د راسمانو يې سمول نه ده
که اوندي(۲) جوندي د دوپړک(۳) وي
دیکرنګانو غوڅې کول زده
مذهب له ځایه راغورزول کړي
کتاب يې ځای ته برخېژول زده
چورنکوړکان هم کړاو لي کړي
لکه باز کله اوچت وهل زده
چې فرعونان يې موزيي(۴) کړان کړي
نوکلیمان يې تورنه نول زده
د آذرانو بتکورکي(۵) نړول
د خلیلانو کعبه کول نه ده

---

۱- ایلتیان = پساتیان - وړانی پیدا کوونکی، ۲- اوندی جوندی = مزغړوني چې غوڅې رسني نه وي، ۳- دوپړک = دوړنګ - منافق، ٤- موزیکي = چې د هیڅ بنې نه وي تش کټ پړي ډک وي، ۵- بتکورکی = بتخانه.

دا باتور په څو شهپرو خپلولو
منګیرک او غلیواز نه باتوریږي
دیو بُت په لړیدلو بُت غلیمو!
سومناتونه په کعبو کې نه بدلیږي
له کیکره د نښتر پیوند خوړوکی
نښتر هیڅکله نښتر نه پاتې کیږي
چې په پړوکو دي وژلي مذهبونو
هغه مړه په مذهبونو نه ژوندیږي
چې د زهرو ډک لښتي پرې راسواوي
دغه سوي چنارونه نه تاندیږي
د قرآن واړه رښتلي عقیدې نن
د مذهب په کتابونو کې ساهیږي
د تیرو سره ملستي بناپیرکي نن
د رڼا په تکی مرګي ته ببریږي

شاه ځلمي دی نوی ځمکه آسمان غواړي
دزوړ شوي په ځای نوی جهان غواړي

دخپل "زه یم" سرهنګي پې سلامت یه
مرئیتوب نه - ملګري د یزدان غواړي

ننګیالو کړه غاړه ما ته اطاعت ته
په لټون که د هغه دي خوځان غواړي

په دنیا کې یو کار هم ناشوني نه دی
یو مخیزی[1] ځیګوره ځوانان غواړي

کشالې غوښتنې نورې د آدم دي
ژوندانه نوی تفسیر د قرآن غواړي

په لښکو د لیښتینګو کټ نه شي
د ژوند ستونځې مېړنی قهرمان غواړي

په یو ماره که کاوز شي، سود یې نه شي
چې ژوندي وي یا نوی ماری زمریان غواړي

---

۱- یومخیزی = چې مخ یې یوه وي - د یوې مفکورې.

عقل هغه وهندی باز دي په لاس
چې د پر اوچت اوچت ښکارونه کوي
ښکته له ځمکې نه تر نمر، ستورتلیز[1]
کراولي کړي، یرغلونه کوي
لوګیز[2]، اوریزه[3] که یې لاره نیسي
له الوت کله پرهېزونه کوي
رهبر، کړاو دی ټول د عقل چې نن
بریښن دړوندی تومن غونه کوي
د آدم کار دی کائنات پرزول
برهغه قام، چې دا کارونه کوي
چې په فطرت یې ده لتی اړولې
د هسکو ستورکو معاشونه کوي
عقل بهیر کړ غورځنګي د شعور
ویر و ویراني ټول مذهبونه کوي
پیاده له عقل کوم وګړي چې دي
د بل موټاژه دې سوالونه کوي

---

۱- ستورتلیز = آسمانلاره- کهکشان، ۲- لوګیز = دګاز وریځ یا نیبولا،
۳- اوریزه = هغه نیبولا چې ستوري پکې په زرغونېدو وي.

حق نه په څنګی، فطرت په ترڅی
تشې ځاندې وي، زور یې اوبه وي

عقل یې شل وي، هڅې یې ګټه
په غټو کوري، ولې ړانده

نه پرې ودانه، که دوی ژوندي وي
او نه پرې وړانه که چرې نه وي

د ځوانمردانو د قط نه وځي
نه یې خواږه وي، نه یې تراخه وي

په "نن په زه یم" دواړو نیستمن شي
خوراک یې خساک، یې خواره او څښنه وي

په زاړه شخوند کړي، نوي ترې نه شي
نوي بریدونه خو د مېړه وي

چې یې راغوند کړي واړه کړلي
دیو ګنجکی دا زړښت نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لسوګینو د لړیون نه
اوړین ستوري راغونځېږي
ستوري تلېږي سر وهي لا
کائنات لا پراخېږي
که یو ستوری ورژېږي
نوی سل را وتوکېږي
د ژوندون زرغونېدو له
نوی ځمکی سا دینېږي
چرته ژوند دی په بخښنچه
چرته کچ، چرته ځوانېږي
د زرها ستورو میرو کې
د ژوندون غږی غږېږي
یوه ستا دا ځمکه نه ده
چې ساه دار پکې هستېږي
شخړې ځمکې ښکته پورته
ستوري تلېږو کې څرخېږي
هغه ځمکه ستا دوتر دی
چې دې لاس وروړسېږي

عقوبت به له دې ځمکې
درته کېږي په سر کېږي

د مېړونو ستوړ بېړۍ دي
له سپوږمو ستوړو تاوېږي
د يونوي کوډ لټون کې
د آسمان لارې چاڼېږي
عقوبت دا ځمکني به
ستورګۍ زو ته ورسېږي
د ښوندون څومره رازونه
به په ډاګه وغوړېږي

قیامتي[1] پاینده هغه اوښتون شي
لا الا سره چې کله یې برغون شي

د عبرت مړي یې ګرځي په ملکونو
کوم فرعون چې له کلیم[2] په ستور بېښون شي

د اولس وینې زبېښونکي هله ورک شي
دربړیا[2] اولس چې کله په پاڅون شي

داو یاړلې ثلي هسې ولاړ نه دي
د مړدې کارونه ډېر په شواخون شي

چې په سین داوراو وینو شي وړپوري
قافله یو قدم مخکې د ښوندون شي

که هرڅومره سنګرونه له ځان تاو کړي
عقوبت د ځمکې تبې هر فارون شي

چینیشني[3] عقیدې چې غاړه باسي
د هغو خلقو تولنه مړیستون[4] شي

---

۱- قیامتي پاینده = تل پاییدونکی، ۲- دربړیا = خطر- نتلی- ځپلی،

۳- چینیشني = چې چیناسکي یکي شوي وي، ٤- مړیستون = هدیره .

د دوران په زلزلو غرونه ړارغړي
په ښکلني ډېروکي څه له ویاړېږي
تلناوونه يې رواسته، موږ يې خوړلي
چاڼ کېږدي کې به تر څو پورې اوسېږي
د پړښتر په چورلندو ځمکې له تللي
لکه ډېلي! په خپل خېز څه غلطېږي
د سور سين چپې دمه وښکه له يادو
اى فرعونه! چې کليمؑ پسې پاڅېږي
د ملخ څانګ سړدي ملاشوله دوه غبرګې
ته لا څې دا تي بارته لاندې کېږي
لاإله بتکورکوته ښکرپوکل دی
که مؤمن يي تروروستي بت به جنګېږي

کلیمه یې چې په زړه باندې سنګر شي
هغه قام هغه وګړي او سپین غر شي
کلیمه د سړي برش د شین زمري کړي
لړو[1] بر وریته د ګډوخپور لښکر شي
کلیمه لکه بوټه چې د اکسیر وي
مس ځوانان چې ترې نه وځي نو سره زر شي
ننګیالي په جهان پټې را تلي نه شي
دوی د هرې سرښیرۍ[2] وتلي سر شي
د هر کورانګرۍ تود، تیاره شي وړکه
میړني ځلمي په هر لوري چې وړ شي
له توُنګه[3] د عیسلي چې نمړي وخوري
که د ختو کوکوشتان وي په وزر شي
د مذهب د مدرسې نه هیله نشته
چې یو چېنی هم د بدر لیچوړ شي

---

۱- لړ = کوز
۲- سرښیرۍ = د جنګ غالي سرپه
۳- تونګ = شکور

دغلیم د برید او چیغي[1] حاجت نشته

لاس ترکړي وو چې پخپله سنګروال شي

دکور، قام بدخوږمنځی[2] په ځان ناتاردی

په تیغه که با تورلن وي تش پیچال[3] شي

تا ئنګ دکټی، د یرغل یې دلاس وځي

چې د چاراتلو ئکی توري نه اتال[4] شي

ځلمي وار په خپل اصل دي لالونه

دروزلو چې څوک نه وي کوتی لال شي

جماتونه، مدرسې او چینې د پرشول

خوله چا هغه بانګونه د بلال رض شي

○

چې دخاورو له کالبوته

او ده "زه یم" برسېرن شي

په اجل باندې بجل را شي

بنیادم ولاړ شي تلن شي

---

۱- چغه = اپه، ۲- بدخوږمنځی = بې اتفاقي - ارو پېچ، ۳- پېچال = د باتورغل - غرباڅه، ٤- اتال = په طمع - په اسره - معطل - ایسار.

دژوندون دغو ځنګونولوی میدان دی
چاته پوله نه سپوږمۍ او نه آسمان دی
دفطرت غېږه پرانستې ده هر چاته
بوده هر چا هم په قدر دخپل توان دی
دا په تا ده جوړوې کاڼي که توره
خپور چاپېره دجنګړې واړه سامان دی
نیمګړتیا کړمې ټولې اړ په مټ دي
مټ کول د بنیاد موپوره په ځان دی
چې یې زده د سورکو وینو کښېدي دي
د هوښۍ ډانګه کمی پدې جهان دی
د باتورلمځي دنیا ده بېله بېله
یو د ځوړې، بل دلوړې وږی[1] شان دی
چې سرهزی د نوښت[2] یې په لاس درکې
دلوی برید په ننداره دی اوس یزدان دی

---

۱- وږی شان - وږی انوونکی، ۲- نوښت - پیلات - ابتکار

چې د "زه یم" تول رنګونه
یکمانه شي یکرنګ شي
لکه غونډې چې چړې شي
اباسین شي په غورځنګ شي

○

سل بخونه یې چې یو مخ شي
"زه یم" هله خان دوران شي
کائنات کړي د پښو لاندې
سالاکاره د یزدان شي

○

چې یې "زه یم" په تنه کې
لکه بُت سلګون سرې وي
آدم زی شي سل لاریزی
له یو دره سل درې وي

○

د توریال زړې راخېژي په سوسر کې
د هوډي هڅې و باسي لاړې غر کې

توربرېښنو یې پخپله غماز کړشي
مېړه کله پټېدی شي په لښکر کې

"ستوروونا"(۱) کړښې د ځمکې کړلې ماته
ښخوي بیرغ د ستورو خپل دوتر کې

مرجونا د نهنګانو له کاله نه
ملغلرې راپنه کړېدي څادر کې

زهري خوره په یوماري وریږوځي
بله ماره یې نیولې وې نظر کې

مرګي، دارو، بتک او اوربښینه
دغه توکي د مېړونو وې سنګر کې

هره ونه خپله مېوه نیسي
چا مونډلې دي کروسکې په کیکر کې

---

۱- ستوروونا = (یوه ښځه د مرجونا) د ستورو ښکاري

زردار هغه کورکښان دي
چې ړوندي بنیادمان خوري

سړیخور په پټه یې نه خوري
سبه برسېر یې په میدان خوري

د بې پرسه کلو خلک
څه مُلا، څه دوتریان خوري

یووَړی یې په شا پروت وي
بل شپې لښتي بارګیران خوري

د باطلو راجواړه ده —
په برمته یې بې کسان خوري

روایات را پاخېدلي
په حملو حملو قرآن خوري

د آدم په بدې ورځې
کلیمان وارو خپل ځان خوري

(c) kesaboo.com The Digital Library

چې په منګ د هوډ پيالو ځي
لاړې خوږ کړې کړې وي

چې په څرخ باندې سوري شي
د هغو تورو لاشې وي

چې له اوره ځني ونه ځي
نو هغه پڅې اومې وي

له چپو چې انګوڅه شي
پولادي هغه سينې وي

چې جنګړيږي ژوندانه وي
د بوم د کې يې شملې وي

چې دمت مجال يې نه وي
د هغو ناندرې ګيلې وي

د باتورو هسې ګوره
څه که يو موټې بېنې وي

چې وهي د تنګسې توري
په هغو کله تنګسې وي

چې ژبانې يې تاو نه شي
نو هغه ليندې پړکې وي

چې وهي د تنکسې تورې
په هغو کله تنکسې وي

سپوږمۍ، ستورې، ستورتيلينې
د ميړونو بر آمستې وي

د سر هسکو غورځنګونه
د تاريخ زرزرينې وي

د اخلاص د شاهسوارانو
منزل لوی، لارې توښې وي

چې منګل يې د زمرو وي
د هغو مارې سکې وي

په راسمنو باندې غرونه
د مالوچو پاغوندې وي

پرناورې سنګر بايلي
وينې سترګې پليتې وي

دو رنګۍ تښتي کڅ پرځانه
چې د بدرتريسې وي

د ميړونو لوی لاسونه
خپله توری او بلې وي

د ګيدړو په نصيب کې
د زمرو پاتې درنګې وي

Reserved -1-

چې یې پښې وي غزولي
د هغو دا کې سپېرې وي
چې له ژوندنه ماتې وخوري
زور یې تول په موسلې وي
د مړشوا کو مسئلو کې
هم د مړو مړینې کیسې وي
کوښې هم ځان سره کوږ کړي
چې یې خپلې پښې کږې وي
دیوړوغ دسیالۍ نه وي
د ړندو که پړکنې وي

○

قام ډلې ډلې توروتور بریښ کړي
دغه کمال د اولسواکـ[1]ـــــــۍ دی

هر ډلیت خپلې ډلــې ته ښـه وایي
دغه دستور د ډلــه بـــازۍ دی

پلویان راوړي، ناحق به حــق کړي
«قامي[2] جرگه» کې سوال د لـیړه دی

چې «جرگه غړي[3]» ټول شته منـــان وي
واړه هېواد دی ونـــډې ونډې دی

کاواکه دروغي واکمنــې ډلـــې
څوک یې د مخې د کـــاواکـــۍ دی

د «سلاغونډه[4]» سپېڅلې لار ده
ولې هله چې د حـــق په تـار ده

---

۱- اولسواکي = دیموکراسي.

۲- قامي جرگه = پارلمان.

۳- جرگه غړي = ممبران.

٤- سلاغونډه = د شورا غونډه.

ولي هغه چې د حق په سر يې ننګ دی
واړه شړونديي د کتاب په رنګ کې رنګ دی
چيلی ناوښکی په سمڅو، په لغمونو
ببل تور د باطل سره په جنګ دی
د جهان په "دنګ قامتو" سراو ښکلی
سالاري يې په نړۍ پورې قلنګ دی
هم د علم په دنيا يې بيرغ جګ دی
هم چاپيره يې د سينه سرېتوب ډنګ دی
هم يې کته، هم يې مخ ملازی ورکړه
خپل پردی يې په نماځنه باندی رنګ دی
د زيارت خوږ دو ته ناسته بې کتابه!
ستا کوربلاری ولايت د پلي لنګ دی

منکران په دليلونو منکران دی
او ملا د بې دليل مذهب امام دی
روښانان خياله نه کافردی، نه مونږ کی
د تسپو سرګزوان يې له ناکام دی

هغه څرنګ به د بل کاسه کړي ډکه
چې یې خم پخپله وچ او نسکور جام دی

پوهګړي تورې تر هیرې، ځي په ډډه
چې مُلا ورښکاره کړي کوم اسلام دی

لیشتکي له لیشتکۍ مفکورې زیږي
ځان وګوره په جهان دې څومره سام دی

مذهبونه په کړې د نیسمانو
د شته منو د خوندي[1] کتو سمام[2] دی

خدای څروندی مال یې میرات دی
څه بې کچه ناروا دي

دي د ټولو چې د خدای دي
نه زما دي او نه ستا دي

دا د "لا" د دوران سر دی
دو ټریان چې په کړ با دي

د هغو لپچې تاوېږي
له پېرونه چې په غلا دي

له زما ، له زمانې نه
پساتونه په دنیا دي

---

۱- خوندی = په امن - Safe ، ۲- سمام = بند بنا

چې لیـــین تري لاس نیوکړي

شاه میـــړونه د اِلّا دي

امانت د اولیا دی

چې له تا ځنې ســوا دی

چې د حق او د باطل د غره راشي

د بې لارې پلار نیکه په لاره مه شي

چې توره[1] یې د بتانو لـــړ ولوي

خدای دې وکوماري ته هغه میړه شي

چې یې غل غدو له ویرې بلوسه کړي

په مورچلو دقام وینې هغه لیمه شي

چې مړه شوا کې ولسونه پرې رغیږي

که یې سل ځله توکې، هغه تارخه شي

څه زرغی زرغی کوې چا قهرمان ته

که ملا وتړې، هغه توریال به ته شي

غرونه غرونه واورې هله به شي ویلې

چې د نمرشان پرې سوړ په ایشېدلی شي

چې یوه پلار ګنی ومانځي اولس ټول

تر به هم د اولسیاسو په وله[2] شي

---

۱- توره = دستور- قانون، ۲- په وله = په ډوډۍ - په بنسه ورځ

(c) kitaabton.com: The Digital Library

چې راشپېل دې په راشه د آسمان ښخ کړ
بیا به هله د سرې په نوم باله شي

چې د کړاو تندې خولې خولې شول
د قام جوش بیا پلوشینې شولې
د سر ښندنې کرامت وګوره
د ازغو غېږې ګلورینې شولې
د پلار خېرې دې کائنات دې واره
کاش چې دې توږې بیا پلرینې شولې
با تورو زې خپله به راوزیږوي
که د پروکې دې مابښینې[1] شولې
غړاو راغه یې شیخ ملې ونیول
چې د زمرې ستوکې تندرینې شولې
د تورانې لیونې کریکې سره
څانګې غړانګې سندرینې شولې
چې بیا په رحل دې کتاب وخاته
ذرې بې ارزه دې نمرینې شولې

---

۱- مابښ = یوغر

کلیمي لره ړوندي زړونه پکار دی
او وله لوټي په پنډ کله پیدا کیږي

په خوبولن کې له بحر کوتوغړیدونکو
تو آسمان ړبه کوونکی او ړتاند پرزي

چې یې نو دتنې وچ ، ځیلي ړوستي شي
په کڼوو ږوشپېبونه راتوکیږي

د مذهب په کڅ خوړلو لختو لړو
د سړسوري دقاموونونه جوړیږیا

هِکځلمی بویه بیرغ د محمد له
دا په خوار ولیشتکونه پورته کیږي

مړه یوکي مذهبونه
لاري نه شي ړنولی

د بوزړ انقلابونه
آذر نه شي راوستلی

د ړوندون او بړدې کیسو له — کائنات به چاڼول وي
له موجود ځپني پېښنا به — ترلوکیزی پورې تلل وي

○

چې په هغو ښارونو کې

چې پرې کسرې وي وختونو

گوياځان له تو زیز[1] کړي

د کورونو، کفنونو

○

د باطل سره په جنګ کې

نه نیم سول شته، نه سرښته

د خلیل مټ دي تود اوسه

د آذر چې بت کړه شته

○

د هند و عقیدو ښار کې

انقلاب را برسیرن شي

د زړو خدایانو مخ چې

ولسات ته کرغیرن شي

○

بتان شي د ځمکې تبی

بتکورونه را نسکور شي

چې د زړونو په ورشو کې

حق زرغونه شي، سمسور شي

○

---

(۱) توزیز = بندوبس

○

خليلان چې له تولـنې
د خدايانو وهكول كـړي
نولومړي د دې خدايانو
خدايي وړپوچ كول كـړي

○

كليمان د فـرعـونـانو
پاچايي هله غــوزار كـړي
چې بې لاړې ولسات تول
د دليل په زور په لار كړي

○

دكليم د درنې پـرګـنې[1]
خلقي وي وار زبـر كې
هم يې كتـه ، هم بخښـنه
هم يې مت وي هم يې ستر كې

○

چې دوخت اړې كـړي كې
پخاى تينك لكه د غـر و
د خپل پوخ «زه يم» په مرسته
دهمه پركنوسـر و

○

ا- پرګې = پرګنې .

اوسې تش د عقل اندېښنو سره
ځې په تياره لار او ورکو سره

عقل که سقراط دی، بربالی نه شو
ګرېوې په لاس د پرشو کشالو سره

ستونځو د ژوندون له برمه پرې يستل
دل يې چې سپوږمۍ ستورې کړل پښو سره

لا تر اوسه لرې له خپل ډګه يې
لاړې کله مارکس، کله روسو سره

کله په يوې کله په بله ځې
درومې دې نيلي د برېښوکو سره

وينې اوښکې وچې شي لنبې کښېنې
عقل چې بلد شي الله هو سره

راشه د کعبې درشله ونيسه
مل شه ای ځيرکه کليم زو سره

آدم زی له مرییتوب ځنې آزاد کا

د "ما کان لبشر"(۱) سبق ور یاد کا

چې د بل د خولو ورزم تې راخیژي

د هغو ماڼو کړکچو خوړ بنیاد کا

د آذر د بُت خانې لړولو ورستو

شړې ورا ورځه کور د خدای آباد کا

چې صبا په غږ قبدو شي کلیمه وایي

د دوران فرعونانو ته خدای رایاد کا

په لوخړو کلی پټ، په وینو ډوب دی

د کوچنی فکر سالار دې څه فساد کا

د مړي په ځای خښتن چې زور نیسي

د عمرؓ انصاف به غل عقوبت ساد کا

له کوپوانه د فطرت یې چې لاس وښکه

هغه قام به زر به غاړه کند کچلول کا

لا اِلاّ چې یې توره شي د ښولني

هغی ډب به یرغلونه د منګول کا

---

(۱) (ما کانَ لبشرٍ ان یؤتیه الله الکتاب ... ثم یقولو للناس کونوا عباداً لی ...)

حق باطل ته ړې تور برېښ دی تل راغلي
حق به نه وي چې باطل سره نيم سول کا

د ېر قامونو نه دي غوندې او بو وړې
په سين غاړه له بار کيږ خوشي پر زول کا

رسيدلی په خپل «زه يم» شاه مېړونه
باچاهي زرغون د خاورو له کندول کا

دا کاڼي يو ازې تېر و خلقو نه کړي
خلق اوس هم په ژوندون لونه ښخول کا

د دې کلي خلق ټول سره يخواره دي
په پر دو فصلونو بلوسې خپل ته شپول کا

چې ځانکړي سود پسې يې شي وکړي
په ټولنه کې سور او ور په غرغنډه وشي

د شته منو شته مني چې خمار وکړي
انقلاب د نيسمنا په راتلو شي

چې بې وس دې دوسدارود سيالي شي
د زرداره تپې دا کله پيرزه وشي

دوتريان د لوڼکو غمونه نه خوري
له ليوه کله زره سوی د شپنکو شي

زر داري د پردو وينو لوی اغيږ دی
اغيږلي عقوبت په چاودېد وشـــي
الا مي د او بنستون د قلِ الْعَفْو ؟
دوترونه چي ورو ورو په کمېد وشي
هغه کار چي کليمانو ته اتـال دی
هغه کله له مارکس اوله روسو شي

له دستور د باتورانو چي بې ړک دي
خود په جاله کې پيدا يې مښنګېرک دي
چي يې ژوند د خدائي لارې په لاروي
هغې سيال دی، هم برخېن، هم په خپلوک دي
د مېړونو لار د اکي آسماني ستاره
مزغروته لارې تل د دوپړک دي
له ساده ايمانه ځار يې فلسفي شه
ځښتنان چي د لروکي د بتک دي
شپنکي کوره غرضونو شرمځان کړل
په برمته ارم په غوښو د کنډک دي
د ننګيال وارم کاروانه هلي ځلي
د نيستمنو، بې اسره په کومک دي

تورڅنګلي[1] پرې برې راولی نه شي
چې د بدر، د حنين توري ترملا دي

الاجي غوندې دانه راوړې يوځای له
شاه ځلمي له شاه ځلموکه ښاپه ښا دي

ښکيالي د سرزړوکي د تورسرو
ښکيالي جګې شملې داوليا دي

فرعونان يې چې په مکرکوټ ښکارکړي
زړکول يې بيا کاروونه دموسیٰ دي

يوکتاب وچې امت پرې ټول راټول وو
يوکتاب دې، اولړوه[2] دوه اويا دي

هر ډليت[3] دخپلې ډلې دوزې[4] وايي
او اَمي خلق حريان، چرته رښتيا دي!

---

۱- تورڅنګلی = چې توره څنګل لري. د باطل ځواکونه.

۲- لړوه = ګوندونه - ډلې.

۳- ډليت = د ډلې غړی.

۴- ډوزی = ثنا - صفت.

د ژړانږې[1] تنګسې کړبنې کې
ژوندانه کله ځائېږي

ژوند غزېږي، اوچتېږي
ژړانږه خوري او سمسورېږي

د زانږی وجود د خیر دی
چې پرې "زه یم" شېرازېږي

د وجود دنیا تا غیر خوري
"زه یم" کله تاغیرېږي

د خښتن په لیکه "زه یم"
خپل قامت وته رسیږي

د زانږې ځاندره شي رنګه
"زه یم" هر کله پائېږي

ولې د خدای ماتې خوړلی نه شي
څوک یې ترلی پرانستلی نه شي

توره به ستا د موزیکې توره وي
د میړه توره پخېدلی نه شي

---

۱. ژړانږه = (لکه واوژړانږه) ماده - چې زیږ ول کوي - Matter

د ګیدړ برخې دي هر چا وخوړې
د زمري برخې څوک خوړلی نه شي

که بُت خانه د پلار نیکه ده نو هم
خلیلان غلي کښېناستلی نه شي

چې یې بیرغ د الاهو پېژني
څوک په سنګرې ورختلی نه شي

زمانه هر څو مره که مخکې ولاړه
له کلیمانو مخکې تللی نه شي

د غیرتمندو د کټ پښې ته ناسته
تا عزت داره څوک کښېنلی نه شي

---

د خیګړو[1] خاوندان چې اړ و پېچ شي
رسوي به څوک جاله وایه ځکه ورته

ځاني سود چې مدعا شي د وګړو
بیا څوک اړوي بل رونه پردې ورته

په زنارکې تسبې وپیلې خلقو
یو مخیزي مسلمان چې لاړ شي چرته!

د خلیل نوم د ثواب د پاره اخلې
ژوندانه دي بتول ناري وهي آذر ته

---

۱. خیګړ = شناز

خدای دي توان د متونه یات د شا ځلمو کړي
چې په نړه ورکېوتي دي لوی غمر ته
د کلیم د پیرې خلق هم هغه دی
نیمګړتیاوې چې د خدای رسوې سر ته

بیا پېغور د محمد (ص) په وینو جب دی
د طائف خلقو دی تیرې بیا وړولي
دا جنډې د کلیمې چې چرته رپي
دا د بدر له میدان راغلي ستسولي
د کعبې په توره کټه لوظ کوونکو
د سرونو په باز وغارې خلاصولي
صدقه د وینو سرو د پښتیالو ده
چې ننګ قام د خپلواکۍ خبرې کولي
د سمسور فصل رشه پیمانه کېږي
د تش تورکي پیمانې کله چاکولي
سمندرې خیرې غوښ کا خپلي غبرګي
که او به دالګه وورځي خښولي(۱)
ساقي خُم ته د شا کاسه سره ناست دی
خو که ستړګي لیونو بیا وغرولي

---

۱- خښولي، چې د خښو لهو ډکي وي.

پخه مه شه د توریال د مړدي توره
د منکرو لا ولاړ دي سنګرونه

د شړوندی مفکورې[1] خپله دومره ځواک[2] وي
بې لښکرو کړي را لاندې هیوادونه

انقلاب د کلیمې راغلی نه دی
چې راځي بوربوړکي انقلابونه

یو بیرغ د محمد(ص) به تل رپاند وي
نور دشیلمي[3] دي بادوړي بیرغونه

هم یو رنګ د کلیمانو پوخ تللی دی
راژېړېږي نور او مه او پړه رنګونه

سرچینه یې چې شي وچه، ړنداوي شي
په غړمبا روان اکاو[4] اکاو سیندونه

د تاریخ په اوږدې پلنې هدیره کې
بې له شناختې[5] دي پراته ډېر اولسونه

---

۱- مفکوره = نظریه - فلسفه، ۲- ځواک = زور - قدرت،
۳- دشیلمی = ټول - سراسر، ٤- اکاو = بردم - ډک،
۵- شناختې = خاڼي

د هغو قامونو بڼه[1] د بهې شي
چې لیندۍ یې د ځلمو شهوتي ترکې شي
چې یې ګډې مفکورې او هلې نه وي
د هغو د خپلواکۍ کوزې جنډې شي
راسمني د مشرانو چې یې نه وي
ښې درنې پګړې پلرینې یې ښنې[2] ښنې شي
لاشه تورې بنیادم تشې کاڼې شي
چې په برخې یې ژونده عقیدې شي
د شادو غونډې پېښې کړې د قامونو
چې یې جس د نوښتون بسمې شي
چم په چم دی له خاورینې دیوې ګرځه
له دیوې نه عقوبت بلې دیوې شي

کوچ شوملې[3] سره بېل بېل کړي
زمانه د ژوند شاریل کړي
د مېړه لاره یوه وي
چې څه کاندي هغه تل کړي

---

۱- بڼه = رنګ، ۲- سبنې سبنې = ریښې ریښې، ۳- شوملې = تروې- شلومبې.

چې په لار د شهزاده [1] شي
هغه دوه ژبې ساتل کړي

په فرعون ګاندي نسکوره
چې دستور د کلیم خپل کړي

دره یونیم په نیزه وړي
که آسونه دې پرتېخل کړي

د ښې ورځې په تکل کښې
خلق توري هم ګالل کړي

د کالا کوترو ته ګوره
چې په نمر پسې غپل کړي

د باتوراڼو نوغې [2] دې خوږ کړ
درته دې پاتې تش پیخالونه

دلبه [3] مرداره څندوې لاس کښې
تش تېوسان پرې کوي سود [4] ونه

د چتو ښکارې دو ګڼې نه کړي
هو ښایې کړځې نیسي بازونه

---

۱- شهزاده = ...کیاولي د کتاب نوم، ۲- نوغې = اصل - نوغې خوړول - بیخ وړکول، ۳- دلبه = غوښنه - طمع، ٤- سود = مینه

چې پرې اړې وي د باتوړانو
نه ښکاري هغه ډنګ ننښترونه
له خدای اګاه شول او نه له ځانه
طالبان وایي کوم کتابونه؟
غرابین زنګ شه، او توري پښې
پاتې ملا دی، یا یې بانګونه

وګړي ګوړه په غوړنو وېړنو
نمرې له یوبل را شوکول کړي
کارونه واړه دلاس سبري دي
څوک شي سکوندلی او څوک سکوندل کړي
دشته منانو د ینګان راپښه دي
دښمنانو ونډې ویشل کړي
یو پنجور هم خپل نوغی نه خوري
آدم لګیا دی آدم خوړل کړي
څوک په خمڅو(۱) پسې راندہ شول
څوک په اوبڼ مکوکې(۲) شونډوهل(۳) کړي

---

۱- خمڅي = دنرو جوار و د وډې - خوار خواړه، ۲- اوبڼ مکې = غوړه زېړه خوراکه - شاهي خواړه، ۳- شونډوهل = لکه څاروي چې په ګیاه کې تشه خوله ووهي، ولې خوري یې نه.

د قبر ځای د لولنګر نشته
ځمکه وال ځمکې را انغاړل کړي
دوړېتو غوښو د دوزې خیژي
خالق آخر به منځ ته کیدل کړي

د ځمکې مخ چې په بلهوا ړي ؟
دا انقلاب دی، هم دا پکار دی
چې سپوراوپلې سره یو سیال کړي
هغه رېښتینی کاروان سالار دی
وار ته دې شرله زرغی زرغی کړي
نن را اوچت شه هم نن دې وار دی
مېړه د عقل، غوښې د ښکار خوري
د عقله پلې پخپله ښکار دی
هر سړی ځانته ترخزه توبزي
یو څو ماړه دی، نور ولس خوار دی
کلیمه وايي په شرنګ یې نه دی
یو سراوبل سر عالم بې لاره دی
د ننه په تن کې زړې زرغونه کا
بهر بیا کوره څه رنګ بهار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندانه کله بېلتون کله کړونه دي
کله مل شه د ټولنې کله بېل
که دې زور د زمانې بدلولو نه وي
د دوران کوږې خوره اوشه بدل
درناوي او سپکاوي په جسوار دي
ستا په لاس ده که کنې او سې که نسل
نشه توره کوري لار د کتنې نه ده
توریالیه! چې څوک شولي حق مسل
ساد، هغه چې په خولو یې د تندې خوري
تیار خوړ کړي د همه ولسیا غل
دیکرنکو کوکل پاک وي تل له ویرې
درغلان او دورنگان وي په زلزل

ته ویله وې چې کوچې ماهیوان بارکړي
اوس وهي به یې دا یلبند شمال او ربل

حقتولنې څنې پرته هر نظام کې
بنیادم له خپله ځایه راغوړي به یې

دککورې دسرې ټوکرې دپاره
آدم زوی بل آدم وته ټيټيږي

پوښته من دی چې ټولنه کې ټولواک ئ دی
نیسمنان خو په جغ شوی تل اوسیږي

دناچاروکته باندې کتوی باندې
دچارمنو کټوی به نی ګټي پخیږي

دبې وسو دخولو په ترموخاشکو
دوسدار وماڼۍ رنګ، خمې ډکیږي

درناوي چې په موړه[1] یا په دوتروي
لولنګ به په ګُنجیله خود ارزیږي

بې اسرې آسمان ته غړندې غړندې اړي
په ظالم چې به لاکله نسکوریږي
په زوخه به یې غورونه شي ټول ویلي
په لړمون دځمکې داسې اورختیکیږي

بې ټولنې ژوندون څه دی؟ شنه پسرلی دی
بې ټولنې بنیادم څه دی؟ نه شی دی
ټولنیزه ژوند سمسور دسرې جس کا
دټولنې مدعا واړه سرې دی

---

۱- موړی = پانګه ،

په تولنه ریزکی لوی قهرمان شي

بې تولنې قهرمان هم لیشتکی دی

چې تولنه دې اُدام په کلیمه وي

هله وایه چې خپلواکۍ د آدم زی دی.

د تولنې سره مل ، دځان څارن شه

چې ستا «زه یم» د ښوندون ځانګړی شی دی

چې تولنه یې باره[1] د ارتیا[2] ناخلې

هر بنجه خپل چاروکی هندوکی دی

کلیمه وار نری یوه کورمه کړي

د یوې کورمې خوتل یوانغری دی

○

داز غوله ویخه سترګې را توکیږي

د پسرلو لاره دغنو په چا په وي

د نمرود د خرخشو به څه ویرېږي

سرې لنبې د خلیلانو خوراکه وي

سامري د زړونو بت غلونه را نیسي

د مزو پیت پرک هم په تیچه وي

شرق ناتار یې د وختونو نیمه خوا کړي

انقلاب چې یې په نیمه کلیمه وي

---

۱- باره = پیښتی، ۲- ارتیا = ضرورت- نیکړتیا- کرمه.

ارکجه چې نظامونه د نړۍ دي
ولسونه خو یې خوړي ارکجه وي

○

د شنډې تخم کرونکي    عقوبت وي برخه شنډه
خېږ یې څه کړي چې نه مومي    ځوک یې وېږي له درست ونډه

○

چې د عمال او ثروندانه دواړه زکات شي
سرلوړي به دې هله په ولسات شي
چې نېستي د بېسمنانو نه غوښېږي
اوردې پوړي په داسې خیر خیرات شي
ولسونه په مېړونو ثروندي اوسي
چې مېړونه په نیش لکي، خود میرات شي
شریعت چې په اندول[1] د خپل وخت نه وي
عقیدې واړه ذکنتي لات منات شي
د ثروندون پانګې په خپلي سکي[2] کېږي
هغه ورک دی، چې پیرې یې په میرات[3] شي
چې یې منډه نه له دین نه له سادینه
د ثروندون خوابزه په داسې ولس قات شي

---

۱- اندول = توله، ۲- سکه = سرمایه - راس المال، ۳- میرات = Grace - لږه وربخښنه.

د هغې او ښې ملامـا ته عقوبت شي
چې يې بارله خپله توانه ځنې زيات شي

هر غور ځنګ[1] ته دورنګان ورښوځي
ځان دې پوهه په دې تکي هر سالار کړي
تا بيا کړانه د بهر د غليم نه ده
کورغليمي په اتبار اتبار ګونه ار کړي
د دورنګو[2] وي نظر په خپلو ګټـو
کله غاړه کې تسپې کله زنار کړي
چې د ننګ خبره راشي کورغاري شي
تش ميدان کې به د هوز وتود باز ار کړي
تا ته لاپې دياري وهي سوګند خوري
شا په شا دې له دښمن سره روزګار کړي
دوه مخيزه شروند په نه شروندو ليکه[3] دی
يو مخيزه شاځلي يو مخيز کار کړي

---

۱- غورځنګ = تحريک - خوځند

۲- دورنګ = دوپرک - دوه ژبي - منافق

۳- ليکه = حساب

○

همخېل جسم دې سړېتوب خاورې ايرې کړي
د دوړنگ عمر په ځان باندې ستم دې
ښښتن ټول د قدر وړ دې پيدا کړي
يو سړي د بل سړي نه په څه کم دې
تړپيمار[1] د فرعونانو دود دستور وي
که ولس يې تل زغمي، نو ولس گرم دې
ستور تليږ و ته چې لاس شي ړسولی
ولې سود يې په کلونو د شرم دې
باتوران چې د کونترو ځای له راشي
ای ويږلو! نړ هر چا و دی د غه غم دې
دې ټولنو او دودونو ليښتکې کړ
کمې لوی له کائناته بنيادم دې
په لويديځ کې لږ له عقله رڼايې ده
په ختيځ کې د هر لوري نه تورتم دې

○

نړپيتار[2] چې د فرعون وي نړامن نه دی
نړامن هغه، چې فرعون يې ورکول کړي

---

۱- تړپيمار = وهل تړل ۲- نړپيتار = د بل د ودي ته ناست .

چې یې جسه وي جابروته تېتېږي
چې جسمنه وي جابر را بغـول کړي

چې د بل په سترګو وینې تول رانده دي
روغ هغه چې یې پخپله ځیرول کړي

نه سړي شو چې سړي یې خدایان کړل
چې سړي وي نو بتان نسکورول کړي

چې بلزونه کړي تنزري، بازوان نه دی
بازوان هغه چې تنزري بازول کړي

ننګیالي دښوند نیمګړي هم پوره کړي
او ولس په خدائي رنګ کې رنګول کړي

په ذروکي یې چې ستوري زرغون نکړل
هغې خوشي لور په لوړته تېرول کړي

ډکې ډکې جولې خلق ځي له درمـن
برکت دې شه ننګیاله په رشـې

ښاپیرک په توروځمخو سرښـاسي
سورپیا شه ختیځ رانولي پلوشې

د بازونو باتورانو یدې قات کـې
تېوسانو ځنې غـوره دی باشـې

د دروغو، د ناحقو منزل لنډ دی

ترڅو ښېښې راتېنګوي به يې مشمشې[1]
لا ليدلي يې بورسترګي کليم نه دی
څکه کړي فرعونان لا په نشې
دحق د ولکه له خپل ځای رقولی نشي
دباطل دا شدتونه خرخشې[2]
ارو پيچ چي له نقشې دکائنات وي
په بل مخ شوی د نړۍ هغه نقشې



چې د نمر سترګه وبريښي
غرونه واوري کاندی ويلي
حق برياليږون همدی
که يې نښته ځوک په سيلي[3]
داوبو دمخ کيل نه دی
کليمه دکانې کيلي[4]
د نبستر دسيالي نه شوي
که په خبرشوي ديري ديلي[5]

---

۱- مشمشه = پروپاګنده، د نهوره . ۲- خرخشې = جنګونه، ۳- سيلي = ملاتړ
٤- کيلي = کرښې، ٥- ديله = يو واسنه .

بدخوګ بدو نه نه وایي

خلق شوې داسې ایلې

چې رنځور باوړې(۱) وکړي

پوچې شي د دارو هیلې

له پولاد اصیلې زیږي

خړې نه زیږي اصیلې

چې نښتر له برمه درومي

نه تیږنګي په یونیلې

لکه کس کړي په ځان غاړې

هسې قام په ځان کاني(۲) کړي

د هر چا تبر له تن دی

خپلې سینې خپله پرې کړي

هر څوک قبر ځان له کني

هر څوک خپلې جنازې کړي

غلیان له کوره زیږي

پلمه باز خه له پلمې کړي

هر څوک ځان ته تبي(۳) سرې کړي

بیا یې ځان باندې سرې کړي

---

۱- باویړي = د ناروغي بیا تاندېدل، ۲- کاني = شندې غاړې، ۳- تبي = د کمټي تبخي

خپل عمل بـري ببښـــن دي

خپل عمل په غاړه پـــړي کړي

څښتن ظلم تـيـري نه کړي

هرڅوک خپله د يوې مرۍ کړي

د فـرعون دکور له درنـده[1]

کلـیان جګې نـیزې کړي

په مسوړ[2] وباتورنه رنګوي نوکې

د تنزیه وتودې وینې یې مسوروي

د ننګیال کرلي خښتې ، سمسوربري

میرې واړه اوسپینخرې که سوسر[3] وي

د دوران تابیاد هغه چا دوس ده

پهٔ غـ ښتنو شوندون چې یې نظر وي

د تاریخ تول ترزوي پرکونه سپي

چې مدام د ننګیالو موتې لښکروي

منکران به خوشحق د لارې تښتي

د هر یو لار به آخر پدې خیبر وي

---

۱- درنده = غولی. جوړس .

۲- مسور = دنوکونو رنګ - نیل پالش ، ۳- سرسر = دوکیاکیدونکی اور .

علیمه لوی چیناګر دی تل تر تله په غور ځنګ
سوسنو نه پری سپرلین دی سیمه سیمه پری ګلرنګ

دکشر مشر فرق خو خود وی
څښتن لو مړی دی او ورپسی ته یی
دیونه کچ یی په نورو بره
هغه قچیره، ځواکمن مېړه یی
چی دی خویونه د هغه خپل کړل
هله په ولې یی، هله به شته یی
ځکه دې غوره پخپل سر اخلی
د هغه مټ یی، د هغه کړه یی
د هغه مل یی، په زړه م بسیل یی
له سین زړ غونه بر بوکېنی نه یی
په سپکو کانو چی ځان دې تولې
داله خپل ځایه لاخبر نه یی

---

۱ـ غوره، تورتهمت ( ... فلم تقتلوهم ولکن الله قتلهم ... )

په درست عمر کې بوڼه(۱) دی نه ده کړې
دا دی باز دی وهنده او د امیشکار یې

یو قدم له خپله ځایه مخکې نه شوې
دکانې غوچکی یې ټول عمر په لار یې

نه دی برید، نه دې ولجه، نه دی مینود څه
هسې لوټ(۲) یې او د ځمکې په مخ بار یې

څه که ځان په سرو مهرانو باندې نیسې
په نظر د صرافانو کټ بنګار یې

حج، مونځونه، تلاوت کړې روژې نیسې
ولې اوس هم زناري یې، بُت ګزار یې

لږه پښه ونیسه فکر له ځان وکړه
چې دا ولې له همه قامونو خوار یې

چې همدغه مذهبونه دې امساوي
لکه ړوند له کړنګونو به غوزار یې

دعلیمانو په مسودونن
چې زنارونه و، هغه تسپې دي

---

۱- بُوڼه = لومړې شکارکول، ۲- لوټ = بې هډوکو ځاندره.

کتاب کښ لي، باطله کړي
دکتاب مېنځ نن هغه کیسې دي

انځور هم هغه خدا ئې انځور دی
ولې پرې شوې پوچ کښېدې دي

چې خلیلانو را پرنګ کښلي
دامتیانو هغه کعبې دي

دا چې یې نور د کلیمو خیژي
چې ویخ یې کوري بې کلیمې دي

دمذهب شروتې لیندې پراس دي
ځکه یې ویشتې تل مونډې دي

چې حق ننګي وه ځلمی وغشی
چې بې ننګي شوه ځلمي ډرمې دي

O

دباتورو دور ترپل ده پر
لړه ناسته یې په ځاله

دشوند بړد[1] کي، راځي پېتی[2]
دنصیب لیک ته اتاله

چې نیستي په هستي مار[3] یا
څه به خلاص شي له زواله

۱- برد = سیالی، ۲- پېتی = ورستی، ۳- مارل = حسابول.

چې يې کړه کليمه ده
ولې نه دې ټول راټاله؟

بازداري دې خپله ستايي
په دېوال له تش پېخاله!!

په نزې باران پسخه شي
اوم غړن لوښي کلاله!

د بل کټې ته په طمع !
هيڅوک نه کټې يې تاله

خواره برسېره کا، تراخه به ورک شي
چاپېر ښوولنه که هرڅو ترخه ده

تيرې به وې ترهغې څلې څلې
چې دې ديو باندې ډيوه څومره ده

حُجره، جُمات کې يې ريښتيا وويل
له يو مغيزنه ولسيا خپه ده

د رابيا کې بورجل ته ځان رسوه
که لار د سروغنو چاپه چاپه ده

د صبا لاره څوک ډب کولی نه شي
ممه داوخت تکه توره شپه ده

## په سپوږمۍ کوزشه مېړنې وویل
## دا د برنګۍ لارې لومړۍ کړېږه ده

ښه عمل «زه یم» ږغون کړي
بد عمل د «زه یم» رنګ شي

چې په «زه یم» شهسړی[1] شي
دوه جهانه یې قلنګ شي

شي تالا ترغه په «زه یم»
چې دوه مخي شي دوه‌رنګ شي

بیا د «زه یم» ژوندانه دی
چې کالبوت د خاورو رنګ شي

چې سمسور یې «زه یم» نه کړ
د وجود سره چنګ ونګ شي

مرګ یې هیڅ کولی نه شي
چې د خدای په رنګ کې رنګ شي

په خپل «زه یم» باندې ننګ دی
په څښتن که د چا ننګ شي

---

(۱) شهسړی = سترسړی - لوی سړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښېنيده پرې ستا عمل دی
که دې "زړه يم" سرانځور دی
شو سره هسکه دلې هورې
چې په "زړه يم" کې سمسور دی
چې ځوانکه(۱) يې شي تور کې
تش لمنی، هم مختور دی
ای د خېټې غم خورکو!
خېټه هم، خوشروند څه نور دی
دې آدم، آدم په زړه يم
بې له زړه يم د آخور دی
چې د تش نس او د نوس شي
سړی ذات پورې پيغور دی

د مېږو نو تېرو تورو چوړنګ يو ړل
د اَتي په امبالې چې غوړېدل
د هغو ښاړو بنه الوزي
سرچپه چې جوړه باز نه نېغېدل

۱- ځوانکه: دزړې يا تخم هغه شونی تيا چې زرغونه ترې کېږي.

د هغو په طبيلو خوړونه غبستي
چې له حق څخه ناحق ته اوړېدل

چې خوړلي سوګندونه يې د وفا وو
دار يې ينبي په اوږو وګرځېدل

د ړندو کلي کې کړاني خرمهري وي
او لالونه په سو پاکو خرشېدل

د کليم په برخه دا رنګې مړژواک وُ
چې له واکه بې واکې ته پسخېدل

د مېړونو پولادي متې سنګر وي
تور بريښونه يې شملې د قام د سر وي

په پوړونو د جمات خوبونه نه کړي
يرغلونه د باطل چې يې په سر وي

د مېړونو نغري کوندري شرېک وي
شېخ ملي دوتر يې وار يو دوتر وي

مخور د ړماني هغه تومن دی
چې پرانستي يې په درستي نړۍ ور وي

د ږنم چينه به يې هم چرې تاند نه کړي
چې پخپله روستي څېلي د نښتر وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نیزوکې یې د وړانګو ستوري والړ شي
ننګیالي د نمر خاته ختلي نمر وي
که د ینګان لري هر څو ستړي وزري
لویې ماري د باتورو په ځیګر وي
چې کاسیر وي په پړوني کې بربنډ وي
حیا خپله حیا ناکوله څادر وي
پردې بد شي د کتوي خپلې نکټولي (۱)
بدي کړوني خپلو بدوله اشر وي
د میړونو د څنګوټ هم دغه دود دی
یا د هیږ تول ماړه یا تول نهر وي

○

چې یوه یې مفکوره وي
اوله دې نه په ادب وي
په سره کې کُنجي (۲) لاس وي
په توده کې یک (۳) جلب وي

○

نه نوره د کائنات ده    نه د ژوند دستوراو لاره
چې یو ځو دې په (٤) وله وي    او د نورو برخه خواره

---

۱- نکولي = پخکړي - لمده بل، ۲- کنجي لاس = خپلو کې کلک لاسونه ورکړي.
۳- یک جلب = چې آسونه یې ځنګ تر ځنګ روان وي، ٤- په وله = ماړه - هوسا.

د میړونو لار(۱) لومړۍ تورې وهل دي

چې نړۍ په ولکه واخلي نو ویش کړ شي

د میړه نیکه دوتړ چې شته کول غواړي

هغې مټې به یې راکاږي او نښتر شي

د قام مشر هم د قام په جامه بوږ(۲) یه

چې ولس یې د شړې وي، شړېور شي

زمانه که ببر شوی اباسین شي

شاه ځلمي ورته پښې بنجي کړي توږ غږ شي

چې په ننګ د لا اله وي غزا هغه

نو رخو هسې خلقي خوشې کړ شي

د سینا په دونهه پنډ تول سربېرې

دیوې دونهې ترمخه یو تبر شي

برغو(۳) پوک وهه، ډنګ ورکا نغارې له

دا خواره واره بنجغې(٤) که لښکر شي

---

۱- لار = قانون، ۲- بوږیه = پکار دی، ۳- برغو = ښکر- تورم،

٤- بنجغې = درې خچې (په اصل کې دونې بوټي سرغوته وائ.

په توربرېښ چې په میدان کې جنګیالي وي
سرخېرې کې یې وتلي ننګیالي وي

په خپل کورکلي کې د ډېر خلق نامستو وي
حقملان په ولسات کې نومیالي وي

چې کلیم ورته بیرغ د یرغل ورکړي
که په هره غاړه مخ کړي، بریالي وي

کلیمه پښتوله، په لاس کې بمبل توره
د مېړونو خو هم دغه دوه کالي وي

که لوی شی دی هغه منډه دابدالي دی
په دا څه که دچا توره ابدالي وي

په سومنات دغوابين په خوله بانګ وایي
چې په خټه کې يې ګډه بلالي ؓ وي

بازداري پورې پېغور شولې بازداره
باتورزي دې قوشخانه کې تپوسان شول

په تولنه کې رڼا پوښتي رانغله
که وکړي تول د سليمې نه حاجيان شول

فرعوني او هاماني په زلزل ګوره
پدې شخړوکې يو څوک کليمان شول

چې ډيوې يې ستا پلرينې واخستلې
د مېړي له ځايه پورته شو آتشيان شول

د همت سپاره دې وبو ګنېدل هسې
خر سپاره درته له پامه وزبکان شول

زهرياللى له خپلې ماري په شا نه شو
په داخه شي په ډنګ ډنګ که ناکسان شول

ای تورانکی اوردزړه ونوله
ستا يوه کوکه ورکېدلی نه شي

نتره شلونه دا زغوکه وي تل
د ستر ګو لاره څوک نيولی نه شي

د ګيدړانو په اور ړوکې چړي
د زمري غورځب خطا کېدلی نه شي

چې شي لاس بری د فطرت په لارو
په هغو چړک راپرېوتلی نه شي

د نن په ګته چې بې سود کړېدی
د صبايي ميدان ګټلی نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي له دي ځمکي پورته شوی نږدی
خبر د بل نړوي سر او لري نه شي
په شاه ميرزې يي انګازه شويده
که يي بنجخي نن ليدلی نه شي

چي د ليچو زور پيدا کړي توره دار شي
چي چنګېز يي وتړي نو هغه لار شي
چي وسلو منو سره کليمه نه وي
که دغو پښان تومن وي تار پتار شي
له دستور د کائنا ته څنګ وځتي
د کندوا انبار شته من قامونه خوار شي
بې وسي په دنيا لويه کوتاهي ده
چي د ښکار کولو نه وي، خپله ښکار شي
آدمزاد لويي ميراني شي کولی
چي د خېټي د غمونو نه وزګار شي
خواري بويه خو په حقې لارې بويه
خرډک کله په خولو وينو چنار شي
ته يخيل بخړکي ولي ناويسايي
هم بخړکي چي خوندي کړي سر انګار شي

شنه راستي د سروي هيڅوک خيمه نه خوري
که پرې تېر د خزانو تر بسمار شي

O

د باطل د ويرتيکي خو کليمه ده

له نيمګړو مفکوروهيڅ نه وير ېږي
د پرقامونه به د ځمکي له مخ ورک وو
خود تکه سره تيغ نه وېرېږي کيږي
زيږي[1] ټول سمسوريدل څوخت ترمينځ کړي
تلوار کړندو! ديک پسوار باندي تود ېږي
پلوپانو د روسوا ولينن! وا وړک
دا نږي ستا سوپه ورځندي به نوريږي
بنستونه د ړوندون په يوه حال وي
ادا بني مکړله وخت سره نوريږي
ټول بدلون يا نه بدلون ړوندانه ندي
خوارهغه دي چي يولوړ ته ښکنز ېږي

O

په شونکار دا باسين چي شوي پوړته
ولي چپ يې د مانکي سندره نه کړه

---

۱- زيږي = نږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


تا راکوونه د خزان نورکوونه تېر شول
خود سروې شنه جامه یې زېړه کړه

چې رېښتیا ویل د کومو خولو تور وه
برېښه دار یې له رېښتیا و بله نه کړه

راغلل ډېر انقلابونه دلې هورې
ولې درسته یو سالار کلیمه نه کړه

مېړني په مېړني پسې لوګي شه
خو باطل سره توده یې سره نه کړه

تېرو تېرو، تهمتونو او خونږې هم
هیڅ کچه د ریښتیالو عقیده نه کړه

چې د سرو وینو پیاشې پکې ځلېږي
شاه ځلمي هم په هغو لارو چلېږي

سر سجدې د جماتونو په پورونو
د مېړه په یوه هڅه نه ارزېږي

ککرې د کلیمانو وي تل هسکې
شکر ورې ککرې ورنه ټیټېږي

حق ملان له زمانې وي پېرې مخکې
خلق نور د زمانې په دود تېرېږي

کلیمه د کائنات سره جنګړه دی

غل د رغل به له جنګ غالي پښا کیږي

ته دې خپله غاړه خلاصه په مړدۍ کا

دې ته مه ګوره چې کله صبا کیږي

د مېړه له مټو پاخه — د ناحق جهان نسکور کا

په چینجنو وستو ګړګو — بود هیره پورې اور کا

دا خدایان د تېنګي نه دي — ولې ته سترګې د بوړ[1] کا

د قاموونو ندۍ ځمکه — د آدم تالیزه کور کا

دا د غوښو تش لوتونه — په حلقا د جسو نور کا

د ښتن په ګنبد وګې

خپلې چارې دې اخور کا

په تیروتورو برغند ځي

ننګیالي ځي په خپل منده ځي

د مېړه د خولـــــــو ونږ

د سپرلو له ګرده ونده ځي

---

۱. بوړ = زهري.

له ښښتنه چې هم غږ وي
هغه کار هم کله شنه ځي؟

هغه پښې پرې کړې بویه
چې د خلقو په مرکه ځي

د تسپو خاوند ته خیر دی
که ځي دار له، لونه ځي

وسپینیزې خَتې[1] را وړه
د کلپانو آخر کنه ځي

چې په ځانګه کې پخه شي
هغه څمکې له بې شنه ځي

چې له اوره لا شه مومي
څه یې ویره بیا له اوره

زړې مات ورو کي کور کړي
شي همغاړې له شه کوره

په چرسو[2] به تر څو سود کړي
کائنات څنې پلن پسوره

د زړې ځای پکې ورک شي
چې ژوندون کړي جامه نوره

---

۱- خَت = کمیس - پمنۍ، ۲- چرسو = تنګ ځای

سرېخېره تل پائېږي

خیر دي نشته سرېخوره!

د فطرت په هنداره کښې

لهٔ څښتنهٔ ځان ته ګوره

چې ځان من دی هغه کس دی

چې ناځانه دی ناکس دی

په سیلاب غرونه لړېږي

څه ارزښت دلې د خس دی

یو په لس، هم یو په سل دی

پیاوړی چې په جس دی

د هوسو د غزالې[1] نه

دزمري ورتېره وس دی

په زرګونو دلو سرّد[2] له

یو بخری داور بس دی

ګړندو پړې ښیره ګل کړه

دمېنه وُ کاروان پس دی

---

۱- غزاله= د هوسو سپل

۲- سرد= یووابنه

زرداران خوري مدام غوښې
دخپل قام لګه کرګس
په درست قام یې لګولی
له پېړو واسې کرګس
دوی ږېښمين له سره واخلي
قام له پاڼي شي یکرس
روږي دب کاندی ولس ته
بیا کوی مانځه او دس
دبې وس وندې کوونکو!
وي ترڅو به ستاسو وس
د «لا ترګضوا» وخت لند دی
لاکوی هوا هوس

○

چې ښتکوری ظالمان شي
سینه یخه دجهان شي
چې خدایان پرمخی پرېوځي
راوچت بنیاد مان شي

چې ځانګړی دوتن ورک شي
په توبه لولنګران شي
کلیمه هله په پښو شي
د باطل بورجل چې وران شي
زورداری کې ځاناځان وي
کلیمه کې تول یو ځان شي

پدې شخړو پرګنو کې
هم هغه ځلمی انځور دی
چې د تول نوغي دخیره
همه چار وکې حقطور دی

پور په جسو شه بیا ګوره
چې یو تن ځنګه لښکر شي
د میړه له چارو برېښي
په تندی اخستي غور شي
هر د مخو برخېزتیا ده
چې خردګ پاڅي نښتر شي
له تنې زوخ چې اوچت شي
لکه نمر پېری تل سحر شي

چې ژوندی وي د ښکار ځله
تو دې وینې خود ښهپر شي
زمرین کواښه شاه ځلموته
سلامي سنګر سنګر شي

ځوانان څه کړې دورمې دي
ځکه یې غشي بې پلې دي
چې له بازه چټوته ناست دي
پیغالونه یې ولجې دي
ولسات لکه تنزري
د ښکاریانو په ښچې دي
د بل مخه یې ښوله مخه
پرکښې نه دي ژمې دي
د نمرود وسیلې واېي
له آنره یې عقیده دي
چې نومړی په سرو دي
د سروتشي پېښې دي
د باتور نخښې یې نشته
لاملخی توله جوړې دي

د یوشرق زغملو نه دي

داپېژي دومره اومسې دي

یکې زه یم بوده نه شه

وجود تشې تنستې دي

د آدم ځانګړې ، زه یم    لکه حق صمد احد دی
تن زاړه دی ولې زه یم    لم یلد ولم یولد دی

د هر ژړي په درون کې    د خپل ستر وجود انځور وي
تېغ ، تنه ، ځانګې کلونه یې    هم کامونه په خپل لور وي

دیکرونکه برید مېږونه    نیسي نور نور سنګرونه
د فطرت خوا بزه لړ نه دي    که ساړه نه شي متونه
لمن څه چې، څادر خور کا    د سپرلي دېر دي کلونه
ته لامیشت په سر پراوېږي    ژوند دې شخړې پراوونه
خونې خونې ستور تلېږي    تازه نه کړه یو خونه
که تنها کوته کښېني    شي کوته به مزلونه
قدم تېز کړه ، چې غرېږي    ستوره تلو کې جرسونه

یوه ورځ به د رته راشي

ستورکزونه بېلکونه

چې په یو هسته پیوست شي
ذرې غونډې شي تور غر شي

ورانګه کړه شي په ورانګې
ړا دبره نوی نمر شي

چې حجرې غښتلي پاڅي
نو دِ هګ ځاندرو سحر شي

ننګ له ننګه چې کوشیر شي
هم لښکر شي، هم سنګر شي

چې سپینګیر سره صف تړ شي
هله الله اکبر شي

هڅې هڅې چې په ګواښ شي
نو جوغې نوی په سر شي

شهسواران چې یک جلب شي
د برډونو(۱) لوی اختر شي

تور په تور باندې شي پورې
سترګې ستر کې یو نظر شي

لارې لارې هر آسمان شي
چې همت همت وزر شي

---

(۱) برډونه = ولجې، مال، غنیمت.

د ځوند پټې شي مخ لسوځې
چې شوګیر تېره نشتر شي
چې ګټل بخښل توره شي
بیا آدم جنت ته ورشي
چې دعقل سپاره وینښ شي
پوچ خدایان هله ړبرشي

o

د وجود توره زیبون دی    او د "زه یم" نوښتون دی
نوښتون کړه دژوند تره    نوښت "زه یم" له پاخون دی

O

یو غورځې دی اباسین دی    غروند غرونه دی یو نیز دی
یوه هځه دی سپوږمۍ ده    یو یرغل دی ستور تلیز دی
له تش ستور لاس او چت شوی    اوس د هرغوره غوریز دی
ستا د توري له ټکوره    کائنات تول سندریز دی
غره راغه دي له همته    کُل لمني ګُل مخیز دی
لا د ژوند غرمه ده لري
دا خو اوس لا سوړکهیز دی

O

که د ښوند نقشونه د پردي

ته د واړه ښوندانځوري

نور ښوندون دي همه پلي

هم يې ته يې چې شهسوري

واړه ستوکي يو يو رنګ دي

ته له رنګه سپرلي طوري

د هوسي په سترګه د ننه

هم باتور کسي د بوري

د ذري په ځانده نمري

په قطره سمندر سپوري

ته په ځمکه کې آسمان يې

په سر و او بوکې اوري

د لښي سره پياڅه يې[1]

لاشه توره، هم تکوري

چې راغوند شي موټي خاوري

کائنات شي چې ورخوري

د حجروپه اړونکه کې

له ظاهر ليده څه نوري

---

۱- پياڅه = د شاتو د ګبين

نور کورونه په تا تنګ دي
نه همسیال د خدای د کور يې

○

مفکورې به د وېرې پوچ شي
د دې يو کليمې وراندې

چې يې ښن سندرې وايي
په صبا يې وايي ساندې

○

په تولنو کې نرغونه
دا ديوې او مشالونه

د سرهنګو شاه ځلمو دی
د خولو وينو رنګونه

د شاه متو الامې يې
اسمانکه سنګرونه

کښېدی يې د کړاو دي
ويړ سېړلي شاليزارونه

د ناغوسترکو شوګير يې
شه علمونه، حکمتونه

په نهره د جنګرېزيې
خوږې وګړې شولانونه

د عقلي مسنود رشه يې
هڅو بونه، تهذيبونه

○

د غلي د نرګس غبن دی
پسرلي يې تا نګه راتلي شي

په اړکه چاپېريال هم
انقلاب زرغونېدی شي

عکسمته پرګنو نه
مله د لارې توليدی شي

میږه مل که د ښبستن دی — له ښښتن مخکې کېدی شي
د تیرو ازغوله تخرګه — نوی ئې وتدراسترکېدی شی
د فرعون له خپله درنده
کلیمان را پاڅېدی شي

○

آدمزاد لا لېشتینګۍ دي — لا ډېر لري له خپل ړکۍ دي
که په تومنه باتوړان دي — لا په چارو کې لوکۍ دي
فلسفیان یې هلکۍ فکره — لا، له زړه یې بې درکۍ دي
په دې ویړلوی کائنات کې — په یو ځمکه، نمرتاوکۍ دي
که خپلوا که ډېر ځان بولي — چې یې ګوري لا بل وکۍ دي
د شپانه ښاري لا نه زده — شرمخان د خپل کنډکۍ دي
لا یې عقل ډېر کچبه دی — لا په ډېر جهلونو کلکۍ دي
د سربنوره نغوتکو — په لاسونو کې لینزکۍ دي
زبېنباکیان یې په جوش کې
هغه شان په امبولکۍ دي

○

لا په سر یې فرعونان شته — لا قارون شته، لا هامان شته
آدمزاد چې ریزکی دي — لا د وچې ډېر خدایان شته
د ولاړې ځکه نه شول — چې پرې پټ شلمان شلمان شته

لا په دار مسیحا خېژي        لا لنډ پاري مذهبیان شته
خلیلان شړوني کښېني        د آذر لا لښکریان شته
هر نوښت ته کفر وايي        لا مخ نختي زناریان شته
قلمونه په اور سوځي        لا د علم غلیان شته
آدمتیاله لا یو خوب دی        لا د قام، خاوري بتان شته

سړیتوب ته لوی منزل دی
لا د دوو پښو حیوان شته

وخت به اخلي، ادمزی چې
له خپل ځانه اشنا کیږي
د څښتن او د خپل زه یم
په اړیکو چې رسیږي
وخت به اخلي دا حیوان چې
د سړي په پښو پاڅیږي
وخت به اخلي پوچ خدایان چې
د بربري، نسکوریږي
او د جهل کتابونه
د خندا توکي جوړیږي
وخت به اخلي کائنات چې
ستر آدم ته بیا تیتیږي

د آدم په پاښېدو کې
لا د دېرو پېرو ځند دی
د دې دوو پښو ښاروی ته
لا په ښخته کې لوی کولند دی

ته په بتول کائنات برېږې — خوله ځانه بې خبرېږې
ملغلره یې په زړه یم — که سیپۍ په تن بهرېږې
په یو ښاخکي کې توپان یې — په ذرې د ننه غرېږې
بر سپېړنه که لاکۍ بنکارې — چې په جس شي نو سره زرېږې
ستا توبرې توره دې "زړه یم" — هم په "زړه یم" ولجه کرېږې
که ورستي راغلي کاروان کې — خود واړه کاروان سرېږې
مینځ هستي ته دې پام نه دی — د بهر هستي په چرېږې
لا نیمچه آدم یې ځکه — لا د نیم ځان روزنګرېږې

انځاره کې حق ته تلیه!
د ناحقو انځور ګرېږې

مفکورو پوچو او خوشو
کوچنی کړی آدم زړی دي
که یې ستر کتاب په لاس شي
د خښتن د برش سرې دی

الکتاب په ادم زړونـــــی
لا ژبودن آخرني دی
که هر څو مره لغوني دی
خو هر زړن کې صباني دی

حق لا اوس هـم نا ویلی
که ویلی دنـدلی دی
فرعوني دی په خمار کې
نا ژبیږي کلیمي دی
چرګ پر یوتی سیلاب زوځي
نوح پلوی بې بیړې دی
د کعبې سپایان جوت نه دی
اتیوان بیا په غدی دی
یو مذهب دګمتي نه دی
دالیندي واړه بې ژي دی
خلق خبتي د بتکور دی
ځکه بنځې آذرې دی
نا پوهي د هر وګړي
په وګړي په غدی دی

مفکورې پوچې نيمګړې
ښکېلکونه، تيزندۍ دی

چې خوندي دې کړه وروره شه
چې دې وبازه خوندي شه
لاس په ظلم پورته شوی
بېرته شرق په خپل تندي شه
د باتورو جس يې بايلل
چې د چتو وهندي شه
پولې پاڅې آدم وخوړې
چې د پولو ځای بندي شه
د خليج پرې ته وتې
د بُتانو وهندي شه
چا تونګ د اسمان وخوړ
څوک ځُغلا په ګړندي شه

ښوندانه تول يو ځانيز دی
که هر څومره ګڼ رنګيز دی

PROPERTY OF ACKU 7550

مخ د ټولو په يو مخه
که هر توکي بل مخيز دی

په يو بهٔ په زير جار وځي
دارباب که زرتاريز دی

لاړي لاړي يوشهـلاره
ټل ټلي يوشه ټليز دی

ستور ټليز ستور ټليز کور کور
کائنات يوشهکوريز دی

پدې دومره هګ ځاندره کې
ځمکه ناشي غوندې څيز دی

خو ځمکه زی په شونی تياو
د همه شروند د توزيز دی

په تنزومت کيراوکړه
شيش بيا واخله ويږجهان ته

چې ذره په ولکه واخلي
متي رانکه بيا شلمان ته

ستا تقدير څه ځمکه نه ده
لاړي وبا سه آسمان ته

له بېلې درياب ته واوړه
له تنګي نه پلن دامان ته
غوږکمنه په لينده کړه
بيا ورکښيوږه ښخ کمان ته
له سپيرغودي د پړشوند وکړه
لاس کړه اوږد نمر ړوبنان ته
پوهه بوځه څېرکتيا له
څېرکي راښکه ايمان ته
په نړۍ ورخوړ پيدوکي
ګرځېدلي اوسه ځان ته

PROPERTY OF
ARIC
Established

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**